ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتی هی احسن (الایه)

د توحید او جهاد مجله

دعوت

۳۷ مه ګڼه

د افغانستان د جماعة الدعوة الی القرآن و السنة د افکارو خپرونکې

حساس پړاو او د ډیوالي ضرورت

ترکومه ځایه چې د پاك افغان د ورورولي تعلق دي
هغه یو ازمایل شوي حقیقت دي چې د متقابل احترام
په توکه باید په دوه اړخیزه توکه مراعت شي.

(شیخ سمیع الله)



دا کابل دی! د ښکلي افغانستان مرکز، د اسیا زړه چې نن ئې په ویجاړتیا او جنګي تشدد باندی د نړۍ ټولی راډیوګانی شخوند وهي.

الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحیم

«ولاتکونوا کالذین تفرقوا واختلفوا من بعد ما جاءهم البینات و أولئك لهم عذابٌ عظیم»*

(آل عمران-۱۰۵)

ترجمه:یعني؛ ومباشید مانند کسانیکه پراگنده شدند و اختلاف کردند با یکدیگر پس از انکه امد به ایشان احکام واضح و آن گروه مرایشانراست عذاب بزرگ.

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى
الله على بصيرة أنا ومن
اتبعني وسبحان الله وما أنا
من المشركين»
سورة يوسف (١٠٨)

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشيخ سميع الله

خپرونکی اداره: ددعوت او ارشاد رياست

اووم کال پرله پسې گڼه (٣٧) ١٤١٥ هـ ق کال جمادي الأولى او جمادي الثاني مياشتي

دهيئت تحرير تر نظارت لاندى

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

ددی گڼی مطالب

مخ	عنوان
٢	* حساس پړاؤ او يووالی ضرورت (سرمقاله)
٥	* جماعت الدعوت هيڅکله د پاکستان (مرکه)
٧	* د جماعة الدعوة انگيزه
١٦	* د لايل شرعيه
٢٠	* د اصلي اهلسنتو دعوت
٢٤	* را نه څه غواړی نور (شعر)
٢٥	* په اسلام کی د حجاب حکم
٢٧	* مولوی ذاکری مرکه
٣٠	* صحابو ژوند ته يوه کتنه
٣٥	* طاعون
٤١	* د نبوی ملغلرو اميل
٤٤	* پرسشهای شما
٤٦	* ستاسو ليک راورسيد

په پاکستان کی د
گڼون بيه:
مياشتنی: ١٠ کلداری
کلنی: ١٠٠ کلداری

په نورو بهرنيو هيوادونوکی د
گڼون بيه:
مياشتنی: ٢ امريکائی ډالر
کلنی: ١٠ امريکائی ډالر

په داخل او په پاکستان کی زمونږ
نمايندگان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد:
پيښور: غنی الله «مسلم»
لاهور: حماد شاکر
کراچی: چوهدری ظهور احمد
کوئټه: عرفان منگل
مظفر آباد: بشير قريشی

په نورو بهرنيو هيوادونوکی زمونږ
نمايندگان

سعودی عرب
امريکا: عبدالرحمن احمد
بريطانيا: منور علی
جرمنی: وائی - ايم حميم
هالينډ: عماد الدين بکری اسماعيل

مکاتباتی پته: «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب: افغان اسلامي خبری اداره - اکاونت نمبر ٧-٦٣-١٠ - نيشنل بينك اف پاکستان صدر روډ - پشاور.

سرمقاله

حساس پړاو او د يووالی ضرورت

د اسلامي امت لپار په هر وخت او هر پړاو کی وحدت او يووالی له بل هر څه ډير ضرور او لازم دی، په همدی باندی الله تعالی په قرآن عظيم الشان کی تاکيد کوی! او فرمايي: « واعتصموا بحبل الله جميعاً ولا تفرقوا » (العمران ۱۰۳) مسلمانانو ته فرمايي چی تاسی ټول د الله تعالی په دين منگولی ولگوئ او ډلی ډلی مه کيږئ. يعنی الله تعالی د مسلمان ملت کاميابی او سرلوړی په وحدت او يووالی کی مقدر کړيده. بل ځای الله تعالی فرمايي: «ولا تكونوا من المشركين ۝ من الذين فرّقوا دينهم و كانوا شيعاً كلُّ حزبٍ بما لديهم فريحون» (الروم - ۳۱-۳۲).

ترجمه: د هغو مشرکانو له ډلی څخه مه کيږئ چی دين ئی ټوټی ټوټی او ډلی ډلی کړيدی او هره ډله په خپل حزب باندی خوښه ده.

پدی باب خوږ نبی صلی الله عليه وسلم د خپل امت د متحد او منسجم پاتی کيدو لپاره ارشاد فرمايلی دي: «عليكم بالجماعة» پر تاسو د جماعت التزام ضروری دی. خوږ نبي صلی الله عليه وسلم خپل امت له نفاق او اختلاف څخه منع کړيدی او فرمايلی دي: «من شذّ شُذّ في النار» چا چی اختلاف وکړ په اور کی به داخل شي. بيا فرمايي: «يد الله على الجماعة» يعنی د الله تعالی مرسته او تائيد د جماعت (اتحاد) سره وی.

د افغانستان برميال او وياړلي تاريخ د وخت په هر ډگر کي له ډيرو لوړو ژورو سره مخ شوي دي مگر د افغان مؤمن ملت په قربانيو دا لوړي ژوري هر وخت په ټينگ ايمان او مخلصه عقيده ز غمل شوي او خپل دغه تاريخ ئي په قهرمانا نه رنگ رنگين کړي دي . د وخت چنگيز او هلاکو تري د عبرت تحفه په ترخ کي نيولي او پښيمانه ستون شوي،همدارنگه انگليسي مؤرخينو هم پخپله خپل قلمونه د افغان مؤمن ملت په فطرتي ميړانه ستړي کړي او تاريخي گواهان دي .

روسي استعمار هم يا خو د افغاني تاريخ له لوستلو نه ناآشنا ؤ او يا د خپلي بي وقوفتيا په دام کي پخپله گير او خپل نوم او نښان ئي د نړۍ له نقشي محوه کړ . مگر اصلي او نچور خبره داده چي

افغانان د تایخ په هر دور کي د دښمن د ظلم په هره بڼې کي نیني شوي خو د غلامۍ سرئي دښمن ته نه دي تيټ کړي .

په اوسني حساس پړأو کي چي افغاني تاريخ پري گامزن دي يو ډول داخلي او بين التنظيمي ستونزي راپيدا شوي او د هيواد سياسي وضع ئي بحراني کړي ده ، دا له هيچا نه پټه نه ده چي دا د يو ډول خارجي لاس وهنو تاثيرات دي او ددي لاس وهنو تر شا د اسلام د دښمنانو هغه لاسونه دي کوم چي نن د اسلامي تحريك محركين د بنياد پرستۍ او دهشت گردۍ په نومونو ځپل غواړي.

په کابل کي د تحول نه وروسته د اسلام دښمنان چي د اسلامي خوځښت د بري او قوت نه په خطر کي وو ، له پخوا څخه د يو تاکلي پلان له مخي په کمين کي وواو غوښتل ئي چي په افغانستان کي داسي عوامل ايجاد کړي تر څو د اسلامي پاڅون پاسدار مجاهدين پخپلو منځونو کي لاس او گريوان کړي او هغه لاس ته راوړي وياړ او شرف چي په ټوله نړۍ کي ئي د اسلامي خوځښت څپي راپارولي دي بدنام او له منځه ئي يوسي .د دي کار د تر سره کولو لپاره په دي لړ کي د اسلام دښمنانو يو شمير اجيران توظيف کړي دي چي په افغانستان کي د سياسي تنظيمونو او مجاهدينو تر منځ اختلافات راوگوماري، بد بختانه د مكار دښمن دغه ډول پلان د جهاد د بري وروسته تر څه حده عملي شو او حتیٰ دغو کشمکشونو بلاخره وسله وال شکل غوره کړ.

همدا رنگه ځيني هيوادنه چي په افغانستان کي د مجاهدينو د اتحاد او يو مضبوط اسلامي حکومت له قيام څخه خطر محسوسوي نو د افغانستان د داخلي جگړي لپاره د سون مواد تهيه کوي.د دي تر څنگه ملگري ملتونه هم د يو تاکلي پلان له مخي رامنځته‌کيږي، جهادي مشران نااهله قلمداد کوي او يو لړ مجهول الهويه خلك چي تر اوسه ئي د جهاد د سنگر هيڅ ډول تودي سړي نه دي ليدلي ددي اهل گڼي چي د افغانستان د مجاهد او مسلمان اولس ذمام په لاس کي ورکړي. د اسلام دغه دښمنان په نړۍ واله سطحه اعلاموي چي د اسلامي بنياد پرستۍ نتايج همدغه دي کوم چي نن په افغانستان کي ليدل کيږي .

نړيوال كفر په گډو مشورو سره هره ورځ د اسلامي خوځښتونو د ځپلو او نابودولو لپاره نوي نوي چلونه او فريبونه اختراع کوي چي که مسلمانان مسلط شي نو د افغانستان په شان حالات به د نړۍ په هر گوټ کي رامنځته شي. نړيوال كفر نن د هر ډول چال او فريب دامونه د مسلمانانو په وړاندي جوړ کړي دي ، نن په کشمير کي د مظلومو مسلمانانو په چغو غوږونه كڼوي او په ظاهره د بشر د حقوقو د ساتلو نغاري گړنگوي، د بوسنيا په مسلمانانو د وسلو بندولو او په ضد ئي د صربي كفر د

تقویه کیدو هڅي کوي، همدارنگه چیچنیا چي په ۱۹۹۱ کال کي ئي د روس د خونخواري پنجي څخه د ځان د آزادولو اعلان کړي، نن ئي روسیه او امریکا په ګډه اسلامي خوځښت خنثي کول غواړي . دا ټولي هغه مشاهدي دي چي زیات وضاحت ته ئي ځکه ضرورت نشته چي هر د هوش او عقل خاوند ئي ډیر ښه درك کوي.

نړیوال کفر هر هغه اسلامي تحریك چي هغه په هر هیواد کي وي په دي بهانه او دي ثبوت ځپي او ورته وائي چي تاسي هم لکه د افغانستان د مجاهدینو پشان اسلامي حکومت غواړئ؟ چي متأسفانه ډیرساده لوحي مسلمانان د مکار دښمن په دي ډول پلمه غولیږي او د مسلمانو تحریکونو په ضد ئي د نفرت ولولي راپاریږي. خو نه داسي نه ده! داد نړیوال کفر هغه طرحه شوي پلان دي چي زمونږ په ګران هیواد افغانستان کي د یوي خاصي منصوبي لاندي جریان لري او د نړیوالو مسلمانو تحریکونو د مخنیوي تجربه په افغانستان کي ترسره کوي.

د دعوت مجلي درنو لوستونکو! د افغانستان د جهاد له پیل څخه ځینو نیکو او مسئولیت پیژندونکو اشخاصو د دي جهاد دغه نازك پړاؤ په ډیره زیرکۍ سره تجزیه کاؤه او د دغه ناوړه حالاتو د نه رامنځته کیدو کوښښونه او هڅي ئي کولي او د ننني دغه ډول بحران د نه رامنځته کیدلو او یا د له منځه ورلو لپاره ئي یوازي او یوازي د مجاهدینو د صفونو د یووالي او وحدت فارموله تیاره کړي وه . پدي لارکي د مسلمان امت مخلصو علماء کرامو او په ځانګړي توګه د جهاد د شهید امام شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دغه ډول هلي ځلي د یادوني وړدي ، شهید مشر تل د جهاد په دوران کي دا کوشش کاؤ چي د مجاهدینو تر منځ حایل خنډونه له منځه یوسي او ټول مجاهدین یو صف او متحد شي . همدا علت ؤ چي زمونږ دغه د اتحاد او وحدت لور ته بلونکي داعي د مکار دښمن له لاسه شهید کړي شو.

غوره داده چي ټول جهادي قوتونه د اسلامي امت او د نړیوالو اسلامي خوځښتونو د ګټو او بهبود لپاره سره راټول شي او خپل هر ډول مسایل د قرآن او سنت له لاري حل وفصل کړي، د دوي اختلافات نه یوازي دا چي زمونږ د هیواد او جهاد حاصل او ثمر بربادوي بلکي په ټوله نړۍ کي د مسلمانانو د ناکامۍ او نابودۍ عوامل تهیه کوي.

جماعت الدعوت هیڅکله دپاکستان په کورنیو چارو کی مداخله نه ده کړی.
دپاك افغان دوستی په متقابل احترام ولاړه ده.

شیخ سمیع الله

تر څو چی په افغانستان کی حالات سمیږی افغانان باید تهدید نشی.

دپاکستان دصوبه سرحد د ملاکنډ دویژن او باجوړ د ورستیو واقعاتو په لړ کی چی دپاکستان د کورنیو چارو وزیر په افغان مهاجرینو او خاص طور د جماعت الدعوت الی القرآن والسنة د تنظیم په کسانو په جنگونو کی د مداخلت کوم تور لگولی وو، د هغی د تردید د پاره که څه هم وخت په وخت د دي تنظیم له طرفه اعلامي خپری شوی وی خو د زیاتو تفصیلاتو په مقصد د جاری کال د نومبر دمیاشتی په ۲۳ نیټه د جماعت امیر شیخ سمیع الله« مجیبی» دپیښور په گرین هوټل کی یو مطبوعاتی کنفرانس جوړ کړ او په دی اړوند ئی د خبریالانو پوښتنو ته مقنع ځوابونه ورکړل.

په دی مطبوعاتی کنفرانس کی چی د بی بی سی د راډیو، جنگ، نیوز، وحدت، جسارت، نوائی وقت، ډان، الأخبار، خبرین، پاکستان او مسلم د ورځپانو نمایندگانو گډون درلود او د غو طرحه شوو پوښتنو ته ځوابونه وویل شول چی د خبریالانو د قناعت وړوگرځیدل.

پوښتنه: تاسو په کومو دلایلو سره د پاکستان دکورنیو چارو د وزیر ادعا ردوی؟

ځواب: دټولو نه ړومبی باید زه دا پوښتنه وکړم چی ښاغلی وزیر په کوم دلیل او ثبوت سره دجماعت په تنظیم باندي دغه تور لگولی دی چی گنی د باجوړ په جنگونو کی زمونږ کسانو برخه اخیستي ده.

خو زما جواب دا دی چی د پاکستان د حکومت او خلقو سره چی مونږ کومي نیکي اړیکی لرو اصولاً دغسی مداخلی ته ضرورت نه پیدا کیږی او د بله طرفه زمونږ د تنظیم په اصولو او منشور کی ددغسی مداخلی گنجایش نشته دی، ځکه نو په صفا ټکو کی او پوره صراحت سره اعلاموم چی د صوبه سرحد په هیڅ کورنی واقعه کی ددی تنظیم غړو برخه نه ده اخیستی او په دی رابطه تور لگول د پارونی څخه پرته بل مقصد نلری.

پوښتنه: داسی ویلی شوی دی چی د ملاکنډ دویژن او باجوړ په جنگونو کي څو کسه افغان مهاجر مړه شوی او ټپیان شوی دی په دی باره کي ستاسو نظر څه دي؟

ځواب: دا صحیح ده چی په دی جگړو کی ۲۷ افغانان مړه او شپیته زخمیان شویدی خو په ډیر افسوس سره باید دا خبره وکړم چی دغه

افغانان په کیمپونو کی په خپلو کورونو کی په هغو گولیو او توپونو لگیدلی دی چی د جنگ په محاذ کی جاري وی.

زمونږ گیله د کورنیو چارو د وزارت او پاکستانی مقاماتو څخه دا هم ده چی ددی مړو او زخمیانو هیڅ تپوس او لاس نیوی ونشو او د پاکستان په کورنی جنگ کي توی لاړل.

که چیری دی ته مداخله ویلی شی چی په هوای گولی په خپل کور کي سړي په شهادت ورسیږی قضاوت خپله تاسو ته سپارم.

دا رنگی په یوی بلی ادعا کی چی گني یو افغان ئی په جنگ کي نیولی دی هغه وخت چي د بی بی سی یو خبریال دا پوښتنه وڅیړله هغه هم یو مقامی سړی تشخیص شو.

پوښتنه: د اطلاعاتو مطابق په باجوړ کی ډیر کسان د کونړ خواته اوښتی دی تر څو د هغه ځایه بیا جنگ ته اماده گی نیسی دا خبره رښتیا ده؟

ځواب: تاسو ته باید دا خبره واضح کړم چي په باجوړ کي کوم قومونه میشته ده همدغسي قومونه لکه مومند، صافي او نور دننه په افغانستان او خاص طور دکونړ او ننگرهار په ولایاتو کي هم شته دی چی یو تر بله سره پښنی او د قامولی اړیکی لری خو هغه چي د پاکستان د حکومت سره جنگیږی هغه د پاکستان تبعه دی او هیڅ افغان ځان ته ددی حق نه ورکوی چی په پاکستاني جنگ او لانجه کی ور گډ شی، په تیره بیا د جماعة الدعوة پالیسي او کړنلاره خو داده چي څومره یی د لاسه وشی په پاکستان کي به د امن د بحالی کردار اداء کړی لکه چي د باجوړ په حوادثو کی د مولوی رحمت الله خان د جماعت یو رکن او د کونړ د جهادی شوری مشر زیاتی منډی تړړی او جرگی وکړی تر څو حالات د جنگ په ځای په خبرو او مذاکراتو سره په کنټرول کی راولړل شی.

پوښتنه: تاسو د پاکستان د حکومت نه څه مطالبي لری او د شریعت د نفاذ د تحریك په باره کی مو د نظر تکي څه شی دي؟

ځواب: مونږ د پاکستان د حکومت او خلکو سره شپاړس کاله د ورونو په شان ژوند کړي دی یو په بل مو اعتماد حاصل کړی دی، زمونږ د جهاد سره ئی ملا تړ کړی دی او مهاجرین ئی تنگسی ته نه دی پری ایښی تر هغی چي افغانانو ته په افغانستان کی د ژوند کولو امکانات نه وی برابر شوي تر هغی دی حوصله وکړی او د خصمانه تحریکاتو په لړ کی دی افغانان په هغه او دغه تور باندی نه تهدیدوی.

پاتی شوه د شریعت د نفاذ خبره دا خو د هر مؤمن مسلمان د خولی خبره ده د صوبه سرحد د حکومت د وینا له مخي مخکي ددینه چي په ملا کنډ جنگونه شروع شی د گورنر له خوا په هغه علاقه کی د شرعي نظام د انفاذ منظوری ورکړ شوي وه خو دا چی مسله څومره د بحث او کتنی وړ ده خپله د ملاکنډ ډویژن او باجوړ د خلکو په قناعت پوری اړه لری او افغانانو ته پکی د تبصري او مداخلي څه جواز نشته خو تر کومه ځایه چی دپاك افغان د ورورولی او عنعوی دوستي تعلق دی هغه یو ازمایل شوی حقیقت دی چی د متقابل احترام په توگه باید په دوه اړخیزه توگه مراعت شي.

دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان تاکیره

د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له ویناؤ څخه

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم . اما بعد: فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم . بسم الله الرحمن الرحیم.

عزتمندو! قوماندانانو، مجاهدینو، علما کرامو او انصارو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زما نه مخکی ډیرو علماؤ چی علمی سویې یی زما نه لوړې وی، تاسو ته حقایق بیان کړل. الله تعالی دی وکړی چی تاسی ته پری یو نوی تاثر او تحمل را پیدا شی، هغه موضوع چی ددی غونډی له منتظیمینو له خوا ما ته سپارل شویده، زه به پري د خپل علم په اندازه یو څه ناڅه د قرآن او سنت په رڼا کی خبری وکړم.

دا موضوع چی د جماعة الدعوة د جوړیدلو داعیه او منشأ څه ده؟

محترمو ورونو: هغه څه چی مونږ پری باور او عقیده لرو، هغه د الله تعالی د حکم د پر ځای کولو او دجهاد ضرورت دی، هغه د مسلمانانو د کلمي وحدت او یووالی دی، دکلمي وحدت او یووالی که له یوی خوا د الله تعالی حکم دی، له بلی خوا زمونږ دجهاد د کامیابی او فتحی لمړنی شرط هم دی، دا وحدت د مسلمانانو د عزت او آبرو د ساتلو یوه لاره ده.

د جماعة الدعوة دجوړیدلو دا مطلب نه دی لکه څنګه چی نورو خلکو تنظیمونه جوړ کړی دی او د مسلمانانو د یووالی تر منځه یی بندونه جوړ کړی دی، دا هر یو تنظیم خپلو اشخاصو ته دا تاثر ورکوی چی که حقانیت دی هم پدی تنظیم کی دی او که کامیابی ده هم پدی تنظیم کی را بنده ده، زما په خیال دا تأثر مسلمانانو ته ورکول بی ځایه دی، دا تنظیمونه دی چی د مسلمانانو تر منځ حایل واقع شوی دی او مسلمانان یووالی ته نهٔ پریږدی. دجماعة الدعوة د جوړیدو دا مقصد نه دی بلکی ددی بر عکس د مسلمانانو د یووالی او پیوستون قاعده جوړول غواړی، جماعة داسی زمینه برابرول غواړی چی ټول مسلمانان یو موټی یو قوت او په یو صف کی و دروی، نن په تنظیمو نو پسی خلك د مادی ګټو پخاطر ننبتی دی، هغه خلك چی د عقیدی او نظریی په اساس په تنظیمونو پوری تړلی دی ډیر لږ دی،

خو مونږ ټولو ورونو ته دا وایو چې تاسی به د ټولو ضروري احکامو نه مخکی د جهاد حکم پیژنئ او د یووالی او وحدت په لور به دعوت کوئ. زمونږ د تنظیم منشور دادی چې الله تعالی فرمایي: «ولتكن منكم أمةٌ يدعون إلى الخير....» یو جماعت دی د مسلمانانو په ټولنه کی داسی وی چې هغه خیر ته دعوت او له منکراتو څخه منعه کوي او امر په معروف او نیکو باندی کوی. نو چې کلمه یوه وی د وحدت دکلمی لاندی د یو داسی ټولنی موجودیت ضروری دی چې د مسلمانانو ټولنی یو نه وی او په متفرقو ډلو او صفونو تقسیم وی، دی ته ضرورت دی چې دا تقسیم مسلمانانو د امر بالمعروف له لاری وحدت ته راوبلی، اسلام دمسلمانانو دا وحدت خیر گڼلی دی، مونږ چې نن گورو د افغانستان او یا نوری اسلامي نړی مسلمانان په جدا جدا صفونو ویشل شوی دی، دا د اسلام حکم نه دی، اسلام دا حکم کوی چې هر صف اوهر تنظیم یو بل ته تنزل وکړی، خپلی مادی یا تنظمي گټی له پامه وغورزوئ او په یوه داسی واحده اسلامي قاعده راټول شئ چې هغه دقرآن او سنت په رڼا کی جوړه شوي وی، دا د قرآن او سنت قاعده ده چې څوك مخکی کوی او که وروسته کوی یی، دا قاعده یوه پیمانه او قانون دی، دی ته د هیڅ ډول اعتراض او تنقید مسئله نه را پیدا کیږی. د اسلامي دعوت اولینه نقطه د عقیدی او توحید ده. کله چې په کنړ کی لومړنی د کفر په مقابل کی پاڅون کیدهٔ، علت یی همدا ؤ چې د مسلمانانو عقیده دتوحید وه نو بله عقیده یی زغملی نه شوه او نتیجه دا شوه چې د باطلی عقیدی سره یی ټکر راغي او جهادی پاڅون وشو، دا د دین دعلماؤ اجتماعي سعی او کوښښ ؤ چې د یو له بل نه مسلمانانو دفاع کوله او دیو بل تائید یی کاوه، د جماعة الدعوة تنظیم بنیاد ډیر کلونه پخوا د امر بالمعروف او نهي عن المنكر پخاطر ایښودل شوی دی او ذایی هدف او مقصددی چې ټول مسلمانان وحدت او یووالی ته دعوت کړی او ټول مسلمانان یوه واحده رهبری او مرکزیت ولری، جماعة الدعوة ددی کار لپاره کوښښ کوي‌چې د ټول امت مسلمه د هر ډول اجتماعی مسایلو حل او بر-رسی د یوی نقطی څخه وشی، جماعة الدعوة دټولو تنظیمونو د یو ځای کولو کوښښ او هڅه کړی ده خو چې د اختلاف په صورت کي یی د یووالي امکانات نه دی لیدلی نو بیا یی ټولو ته په یو نظر کتلی دی، د یو تائید او دبل تردید یی نه دی کړی، جماعة الدعوة دنورو تنظیمونو سره یوازی په نیکیو کی تعاون او مرسته کړی ده او کوی یی او په بدیو کوښښ کوی چې د مقابل لوری لاس ونیسي او بدیو ته یی پری نه ږدی، جماعة الدعوة ټولو تنظیمونو ته چې د مسلمانانو د شقاق او نفاق سبب گرځیدلی دی په اوچت آواز غږ کوی چې د اسلام واحد صف ته راشئ او جدا جدا ډلی‌مه جوړیږئ. دا د امت مسلمه فریضه ده چې د قرآن او سنت په رڼا کی جوړه شوي قاعده اومني او عمل پری وکړی، که چیری دا جدا جدا تنظیمونه همدا نن په یوه واحده اسلامي قاعده متحد او متفق شی، زمونږ سره بیله صبغه او صف نشته، زمونږ ددوی نه دبیلوالی عامل او سبب د همدی تنظیمونو دبیلوالی اختلاف دی.

په افغانستان کي چې کوم جهاد پیل شوی دی، دا د کوم خارجی قوت په قومنده او امر نه دی پیل شوی بلکی دا جهاد د یوی اسلامي عقیدی او نظریي په بناء پیل شوی دی، زمونږ گاونډی هیوادونو ددی خبري بر-داشت نه شو کولی چې مونږ دی د هغو خلکو چې د کمونیزم مخالفت ته پر نړیواله سطحه پورته شوی دی د

مهاجرينو په صفت ومنو، ځکه دا گاونډي هيوادونه په دې پوهيدل چې دشرق د کمونيستي زبرځواك دښمنی مونږ ته پيدا کيږي، او ددې خبری اميدواری ډيره کمه وه چې افغانان دې دخپلی عقيدې په قوت د لا دينه قوتونو په مقابل کی يو صف او ديوال شي، د افغانی مسلمانانو سره راسخه عقيده وه او شهادت ورته يو افتخار او امتياز ؤ.

هغوی د خپلی عقيدې او قربانی په قوت په گاونډي هيوادونو دا ومنله چی دوي ته ځای ورکړی او گاونډيو هيوادونو ته يې دا ثابته کړه چې افغانانو سره اسلام او عقيده شته او ددي عقيدی په زور خپل ژوند د سوپر طاقت طيارو، ټانکونو او ډول ډول مدرنو وسلو او توپونو په مقابل کی ديوال گرځولی شی.

د افغانستان جهاد چی د اسلامي عقيدې په بناء را شروع شوی دی، د چا سره چی ايمان وی، هغه به دا يقين لری چی دا جهاد به هرومرو کاميابيږي او د ناکاميدو امکانات يې نشته په مهاجرت کی هغه مجاهدين چې اسلامي عقيده، اسلامي فکر، اسلامی سلوك او خلوص ورسره وی، دغسی کسان که په سلو کی لس هم وی، همدا به الله تعالی کاميابوی.

د افغانستان د جهادپه باره کی ددی فکر کول چی دا جهاد به ناکاميږي، دا تصور هغه څوك کوي چی زړه او نفس کی يې ايمان ځای نه دی نيولی. دا ځکه چې په افغانستان يرغل کوونکې کمونستان دبنده بندگان دی او د بنده تر قوماندی لاندی قوت دی او دا چی ددغو ير-غلگرو په مقابل کي جنگيږي، دا د ځمکي او اسمانونو او دټولو کايناتو دمالك بندگان دی، دا څنگه امکان لری چي د بنده - بنده دی د کايناتو د مالك بنده ته شکست او ماتی ورکړی. الله تعالی فرمايي: «إذيقول المنافقون والذين في قلوبهم مرضٌ غرَّ هٰؤلاءِ دينهم و من يتوكل على الله فإن الله عزيزٌ حكيم» (الأنفال-٤٩)

هغه خلکو چی ايمان نه درلود، دوي دمسلمانانو بی وزلی، د مسلما-نانو قلت او دمادی او ظاهری وسايلو کمزوری او د کفارو تجهيزات، قوت او مادی وسايل يی په نظرکی نيولي وو، منافقينو به دا ويل چی دوی خپل دين غولولی دی، دوي به څنگه د داسی مجهز قوت مقابله وکړی، دا تصور هغه چا کاوُه د چا په زړونو کي چی د منافقت مرض ؤ.

مجاهدين چی هغه د اسلام لښکر او قوت دی نو الله تعالی ورته فرمايي: څوك چی خپل وکيل الله تعالی وگرځوی او په الله تعالی توکل وکړی، بيله شکه الله تعالی غالب او حکيم ذات دی هغه قوت چی يو ټولی په بل ټولی غالبه کوی هغه زما به لاس کی دی.

دافغانستان ټول مجاهدين چی هغه د اسلام نوکران دی، دا عقيده به ورسره وی چی دا جهاد به کاميابيږي. ددی جهاد کاميابی زمونږ په اعمالو پوری منحصره ده، که مونږ کی نيمگړتياوی ډيری وی، دجهاد کاميابی به وروسته کيږی او که دا نيمگړتياوی کمی شوی، هغومره به د جهاد کاميابی را مخکی کيږی.

او که جهاد ته په اسلامي فکر، اسلامي شروطو، اسلامي آدابو او اسلامي احکامو ادامه ورکړی شوه، جهاد به هغومره زر مخ په وړاندي ځی او کاميابی به زر حاصليږي. خو دا جهاد چی اسلام په مسلمانانو فرض کړيدی، په دی کی الله تعالی د جهاد مقصد، غايه او هدف او د جهاد د فرضيت منشأ او حکمت بنايي. الله جل جلاله فرمايي: «قُتلوهم يعذبهم الله بأيديكم» (التوبة - ١٤)

دجهاد د وروستنی مرحلی حکم الله تعالی په سورت (التوبة) کی بيانوی پيغمبر صلی الله عليه وسلم

چی کومه دعوه خلکو ته راوړی وه، په هغه دعوت کی د چا په ابرو، عزت او نفس حمله نه وه، هغه داسی دعوت ؤ چی په هغه کی د خلکو د ابرو، نفس او امنیت پیغام ؤ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه شخصیت ؤ چی ټولو خلکو په «امین» پیژاندهٔ، خو چی کله یی د اسلام دعوت راوړ، د اسلام او کفر د نظریو په منځ کی تضاد او دښمني راغله، پیغمبر صلی الله علیه وسلم دنیا ته د دښمني پیغام نه ؤ راوړی بلکی د انسانیت، امنیت او د الله تعالی سره یي د خلکو درابطی دقایمولو پیغام راوړی ؤ، چی بالآخره ډیرو خلکو ورسره ددغه الهی دعوت په سر د دښمنی لاره ونیوله، ځکه ددی دواړو نظریو د یو له بل سره دښمنی ده، دا دواړه نظریي طبیعي عداوت او دښمنی لري او جوړ یی نشی راتلای، ځکه دا دواړه نظریی او ددی دواړو نظریو پیراون هرو مرو یو په بل تجاوز او تیری کوی. د اسلام په اوله مرحله کي الله تعالی صحابه کرامو ته دصبر حکم کړی ؤ، چی که د کفری قوتونو له لاسه پر تاسو باندی هر ځومره مشکلات او تکالیف راځی، صبر به کوئ.

د جهاد له حکم نه مخکی دصحابه کرامو سره ددی خبری ارزو وه او په دی خبره به یی اسرار کاوُ چی ولی په مونږ جهاد نه فرض کیږي؟ او مونږ ته اجازت نه راکول کیږی چی د ظلم مقابله په ظلم او د قوت مقابله په قوت سره وکړو! نو الله تعالی ورته دا حکم راولیږهٔ:

«أذن للذين يقاتلون بأنهم ظلموا و إن الله على نصرهم لقدير» (سوره - الحج - ۳۹)

هغه څوک چی له خپل وطن نه ایستل شوی دی، دخپلو مالونو او جایدادونو څخه محرومه شوی او ظلم زیاتی ور باندی شوی دی، دوی ته اجازت دی چی له ځان څخه دفاع وکړي . د اجازت نه وروسته الله تعالی دغه ایت راولیږهٔ: «وقتلوا في سبيل الله الذين يقتلونكم» (البقرة-۱۹۰)

جهاد فرض شو، خو د هغو کسانو سره چي د مسلمانانو سره یی قتال کاوُه، اول اجازت ورکړی شو خو خلک ددی نه منع وو چي ددوي مقابله په قوت وکړی. دویم حکم چی په اسلام کی راغي، څوک چی ستاسی مقابله کوی، مقابله یی وکړئ او څوک چي ستاسی سره جنګیږی ورسره وجنګیږئ. په دریمه مرحله کی الله تعالی عمومی جهاد فرض کړ او فرمایی: «کتب علیکم القتال و هو کرهٌ لکم» (البقرة-۲۱۶)

جنګ پر تاسی فرض شویدی، دا چي په دریمه مرحله کی جنګ په مسلمانانو په عمومی ډول فرض کیږی، ددی اعلان قرآن کوی فرمایي: «قاتلوهم يعذبهم الله بأيديكم» (التوبة -۱٤)

د کافرو سره قتال په دی خاطر وکړئ چی الله تعالی نه باغی او سرکش ته جزا ورکړی شی، ځکه هغه د جزا وړ وی. هغه څوک چی دعوه کوی چی ما ایمان راوړی دی او د الله تعالی بنده یم، د الله تعالی دغه بنده به د هغه چا په مقابل کی چی هغه دنفس بندګی قبوله کړی او زما د بندګۍ نه یی سر غړونه کړی ده، هغه به زما ددغه بنده په لاس عذابیږی، الله تعالی د ایمان خاوندانو ته وایی چی ددغه سر کشو کافرو سره وجنګیږئ، څو چی ستاسی په لاس الله تعالی دوي ته عذاب ورکړی. د مؤمن په لاس دوي ته عذاب ورکول دا د الله تعالی منظور ؤ او دغه هدف دهغه چا په ذریعه پوره کوی چی د الله تعالی دبندګی دعوه دار وی.

(ویخزهم) ددي جنګ دوهمه فایده دا ده چی الله تعالی دوي رسوا کړی، ددوي رسوایي فضاحت د الله تعالی

مطلوب دی. دا چې کومو خلکو دالله تعالی له بندګی نه سر کشی کړې ده او متمرد دی، هغه الله تعالی ددوی په لاس رسوا کوی.

زمونږ دا نیمګړی جهادچې داسلامي احکامو له نظره په سلو کی په لسو احکامو سمبال دی، په دی جهاد باندی الله تعالی د شرق هغه لوی استکباری طاقت مات کړ او هغه شکست او ورسوایی چی الله ددی مجاهدینو په لاس ورکړه، دا د الله تعالی مقصد دی. که مجاهدین د روسانو طیاری راونه غورزولی شی او د روسانو قلعه فتحه او مرکزونه یی پایمال نه کړی شی، خو د هغو د قوت د رسوا کولو په خاطر باندی چي یی کوم جهاد کړی دی، د الله پاك هغه حکم چی «وجنګیږئ» په ځای کړی دی، دجنګ حکم یی ورته ددی لپاره کړی دی چی هغوی رسوا شی. الله پاك د همدی ضعیفه قوت (مجاهدینو) په ذریعه د کفر لوی لوی طاقتونه رسوا او ذلیله کړل. که د کفر مرکزونه مو بمبار او فتحه نه کړی شول خو دا مو ایمان او اراده ده چې انشاء الله خامخا به یی فتحه کوو.

الله تعالی فرمایی: «وینصرکم علیهم» (التوبة-۱٤) تاسو د کفارو سره وجنګیږئ چی په کافرو کامیاب او فاتح شئ، په دی نصرت کی د اسلام ددین او دمسلمان امت حقانیت او د الله تعالی د قوت او عزت مظاهره کیږی، په دی جنګ کی تاسو ته کامیابی حاصلیږی او دا د جهاد غایه او مقصد دی.

که مسلمان ملت في سبیل الله جنګ پریږدی او ددی مقام د حاصلولو نه ځان وساتی، هغه به بیا ذلیل شی. ددی وجی نه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: هرکله چی تاسی له شرعي حیلو سره اخستل او خرڅول شروع کړی، د مالداری او زراعت په چارو کی مصروف شئ او د الله تعالی په لار کی جهاد کولو ته شا کړئ نو الله به داسی ذلت در باندی مسلط کړی او تر هغه وخته به درباندی اخته یاست، تر څو بیرته خپل دین ته راونه ګرځئ. (ابو داؤد د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه په حواله)

د مسلمان کار او کسب چی بوازی چوپانی، دهقانی او تجارت شی او في سبیل الله جهاد نه وی، نو الله به وریاندی ذلت مسلط کړی او تر هغه به دغه ذلت نه پورته کیږی، تر څو پوری چی دین او جهاد ته رجوع ونه کړی.

نن چی اسلامي دولتونه او اسلامي ملتونه له کومو مادی شتمنیو نه برخورداره دی، دومره کفری هیوادونه نه دی، مگر ذلت وریاندی مسلط دی، دوي ته مادی قوتونو عزت ورنکړی شو. هغه ملتونه او قومونه چي ځانونه مسلمانان ګڼی، ددوی عزت او نصرت الله تعالی په جهاد کي مقدر کړی دی که دوی جهادپریښود، نو همدغه لاره یی د ذلت او وروسته والی عامل ګڼل کیږي.

الله تعالی فرمایی: دا جنګ په دی خاطر وکړئ، چی دا د شر طاقتونه او د اسلامیت دښمنان نابود کړی شي، ځکه دوي نه غواړی چی د اسلامي دعوت لاره خوشی کړی. کفری طاقتونه او د انسانیت دښمنان همیشه په مسلمانانو د ظلم لاس اوږدوی، الله تعالی فرمایی: «ویشف صدور قوم مؤمنین» (التوبة -۱٤) د دوی سره په دی خاطر وجنګیږئ چی د مؤمن قوم سینی په هغوی باندی یخی شي او دا ضرور په جهاد کی حاصلیږی. «ویتوب الله علی من یشاء» (التوبه - ۱۵) وروستنی غایه ده چی قرآن یی په هر ځای کی ذکر کوی، قتال ددی لپاره وکړئ چی د الله د رحمت لاره وګرځي.

دا په ملیاردونو خلك چی د اسلام او د هغوی په منځ کی حایل او سد دي دا موانع ددی ځمکی په سر دا ظالم قوتونه دی چې د الله تعالی

بندګان یی د ځان بندګان ګرځولی دی. په روسیه کی دری سوه پنځوس میلونه خلك ژوند کوی، خو پنځه ویشت ملیونه خلك ئی په سر نویشت لوبی کوی او دا نور یی په پنجره کی حصار کړی دی، چې کله هم ورته د خلاصون لاره پیدا شوه، ټول به تری لکه دهوایي مرغانو وتښتي. دغه ظالم قوتونه ددی لپاره چې د اسلامي دعوت سره مخ نشی او ددوي محکومو ذهنونو ته د اسلام وړانګی ونه رسیږی، باطلی عقیدی یي ورته په ذهنونو تپلی دی.

د ځمکی په سر ددغه ظالمو قوتونو سره دقتال حکم شوی دی، دا ظالم قوتونه به خامخا په قتال سره ماتیږی او که چیری په قتال سره نه ماتیدلی، نو الله تعالی مونږ په قتال او جهاد نه موظف کولو او د جهاد نتیجه همدا ده چې دا به ضرور ختمیږی.

د الله تعالی په وعده او حکم کې که سړی شك او تردد وکړي، مسلمان نه شی پاتی کیدلی، ځکه الله تعالی وایی چې ددی قوتونو سره جنګ وکړئ چې اسلام ته ددعوت لاری خلاصی شي او دغه اسلام او انسانیت ته حایل خنډونه او پردی لری کړی شي، چې هر چاته د فکر کولو زمینه برابره شي.

«و قاتلوهم حتی لا تکون فتنةٌ و یکون الدین کله لله» (انفال - ۳۹)

الله تعالی فرمایي:«د کافر سره قتال په دی خاطر وکړئ چې دځمکی پر مخ ظالم قوت پاتی نشی او انقیاد او تابعداری یوازی الله جل جلاله ته شی. دا د جهاد فریضه ده، داجهاد افغانانو په اسلامي عقیده شروع کړی دی او دا جهاد به د همدی مقصد لپاره دوام لری. د افغانستان مجاهدینو د الله تعالی دمعرفت درابطی او تعلق په سلسله په دی جهاد شروع کړی وه، چا په اوله ورځ دا مسئولیت پیژندلي او څوك په دوهمه ورځ ددی کاروان سره ملګری شوی دی او څوك هم په دریمه مرحله کی ورسره یو ځای شوي دي.

د الله د رحمت دروازی بیرته دی، که څوك اوس ددی کاروان سره ملګری کیږی د جهاد آثر او سر نویشت به ټاکلی کیږی. د جهاد سرنویشت نه امریکا ټاکلی شی او نه یی زمونږ ګاونډی ممالك ټاکلی شی، څرنګه چې داجهاد د یو مسئولیت په بناء شروع شوي دی، دا به همداسی دوام لری، ددی جهاد د مصالحو، سعادتونو او امتیازاتو نه به همدا مجاهدین برخورداره وی، په دی لاره کي لوږه، تنده، جلاوطني، د سرو مال زیان او حتیٰ شهادت شته دي، ددی ټولو

تکالیفو او مشکلاتو راتګ د الله تعالی خوښه ده. الله تعالی فرمایي: «و یتّخذ منکم شهدآء» (العمران- ۱٤۰)

کله کله په مسلمانانو وقفی او اتفاقی مشکلات راځی او مسلمانان ورسره مخ کیږی، یعنی کله داسی وی چې مسلمانان ظاهراً له ناکامۍ سره مخ کیږی، خو ددی ناکامۍ مقصد د الله تعالی په وړاندی د مسلمان شهادت دي، که د همیشه لپاره مسلمانان غالب او کامیاب پاتی شي، نو مؤمنان دشهادت غوندی لوړه مرتبه له لاسه ورکوی، دغه ددنیا ظاهری کامیابی الله تعالی د مؤمن د مقدر زیان ګڼلی.

د افغانستان جهاد الله تعالی د افغانی مجاهدینو لپاره خوښ کړی دی، ځکه په ظاهری ناکامۍ کي الله تعالی ددی مجاهدینو لپاره د شهادت غوندی لوړه مرتبه مقدر کړی ده، دا د الله تعالی خوښه او زمونږ امتیاز او افتخار دي، چې الله تعالی زمونږ په لاسو نن د کمونیزم او دهریت پیروان او د الله تعالی د وجود څخه منکرین عذابوی، زمونږ ژوندي مجاهدین د غازیانو او فاتحینو افتخار لاس ته راوړی او تلف شوی مو د شهادت لوړه درجه ګټي.

نن ډاکتر نجیب وايي چې ما موقت اوربند اعلان کړی دي، ددې دا معنی ده چې نجیب په جنګ شروع کړېده، خو نه داسې نه ده، هغه مجاهدینو ته جرګې رالیږلې دي، همدا رنګه یې مجاهدینو ته پیسې وړاندې کړې دي او ډول ډول امتیازات یې چې په قدرت کې یې دي ورته وړاندې کړېدي، دا خبرې اوس نه بلکې د جهاد له اوایلو څخه شروع دي، ځکه مجاهدینو مسلح جهاد پیل کړ او د جهاد په مقابل کې دوي دا غوښتل چې په دغو امتیازاتو د مؤمنو افغانانو اذهان و- غولوی او تسخیر یې کړي.

خو الحمد لله داسې ونه شوه، ځکه دا هیواد د مسلمانانو ؤ، په دې کې له اسلام څخه پرته نور ایزمونه نه ځای کیدل، په دې کې له اسلامي نظریې او عقیدې پله نظریه ا وعقیده نه ځایدله، هغه خلک چې هغه د اسلامي نظریې او عقیدې څخه برخورداره نه وي، هغه دا حق نه لري چې هغه دې دمسلمانانو د کور مالك جوړ شي او د مسلمانانو په سر حکومت وکړي، مجاهدینو د الله تعالی په حکم خپله توره د الحاد په مقابل کې پورته کړې او په دې اسلامي هیواد کې له اسلامي نظام څخه پرته بل نظام حاکم کول نه غواړي.

د ډاکتر نجیب لپاره دسوچ او فکر وړ خبره ده، یا به د اسلام په مکمله نظریه رفتار کوی او یا د کفر. دوه قوتونه، دوه نظریې او دوه عقیدې په یو ملك کې حکومت او وخت نه شي تیرولی.

تاسې په ځینې اسلامي هیوادونو کې وینئ چې خلك یې مسلمانان وي او د شرعي نظام د تنفیذ چیغې وهي مګر انګریزی یا کوم بل د انسان د لاس اختراع شوي نظام پرې مسلط وي او د حکومت اقتدار یې د داسې خلکو په لاس کې وي چې هغه مختلط وي، یعنې مقتدر خلك یې د مختلفو نظریو او عقیدو څښتنان وي، نو دا محال خبره ده چې په داسې هیواد کې دې اسلامي نظام راشي. که چیرې د یو ملك مقتدر خلك د یوې اسلامي تیوری او فکر خاوندان وي، هلته د اسلامي نظام منځته راتګ ګران نه وي، دا مشکل او ګران والی د هغه ځا په وړاندې وي چې هغه په نفس کې ایمان نه لري، په هر هغه هیواد کې چې مختلط او مشترك پارلمان او د مختلفو نظریو خلك وجود ولري په هغه هیواد کې هیڅکله هم اسلامي نظام نه شي راتلای.

مونږ ډاکتر نجیب ته وایو! یو داسې څوك چې هغه ایمان ولري او مسلمان وي، دا څنګه کولی شي چې دکمونیزم او اشتراکیت دنظریې دلرونکو سره په یو پارلیمان او مجلس کې کښیني او د یو مسلمان ملت د سرنوشت فیصله وکړي.

ډاکتر نجیب د «خاد» دشبکې یو رئیس شخصیت دي، بې شمیره مسلمانان یې په ډول ډول شکنجو تعذیب کړي، په دسته جمعي شکل یې شهیدان کړي او بیا یې په بلدوزرونو او ټانکونو په ځمکه ښخ کړي دي، نن هغه بې ایمانه او نهایې ظالم سړی او یا داسې نور ددغې اشتراکی نظریې لرونکې زمونږ سره د تفاهم کولو جرئت پیدا کوی او د خپلو جرایمو د پټولو اود خپلو ځانونو د بچ کولو پخاطر د تفاهم له سیاست څخه کار اخلي. زمونږ دریځ او ایماني ځواب د نجیب ددې ارزو په مقابل کې دا دی چې تر څو پورې په افغانستان کې مسلمان قوت موجود وي، د کفری او الحادی قوت سره یو ځای کیناستل یې نا ممکن دی، دا یوازې په افغانستان کې نه بلکې په ټوله نړۍ کې څوك د روسي طاقت دا لایتناهي مظالم او بربریت نه شي هیرولی. دا نا ممکنه ده که چیرې په کوم هیواد کې دا دواړه نظریې موجودې وي، تاسې به کتلی وی چې په هر هغه هیواد کې چې

شرعي حکومت نه وی، هیواد او د هیواد خلك يې له ډول ډول ستونزو او مصيبتونو سره مخ وی. که چیری د نجيب دی ارزو ته مثبت ځواب ووايو او د هغه سره يو ځای کینساتلو ته تيار شو نو که سل کاله وروسته هم وی، يو ځل به مو د کمونيزم په اينبودل شوي دام کی ښنکيلوی.مونږ خو الله خبر چی تر څو به ژوندی يو، خو زمونږ راتلونکی نسل ددغه مکری دام په لوری وردرومی.

مونږ په دی پوهيږو چی ددغه ډول خلکو سره زمونږ وخت تيرول د اور او اوبو په مثال دی، او هر کله چی وی يو ځل به مو له منځه وړی نو اوس ولی خپل مقصد چی هغه د الله په لاره کی شهادت دی نه حاصلوو؟ او ددغسی سبا تدبير نن ولی نه کوو؟

زمونږ ددی جهاد په انگيزه دا پوره يقين او باور دی چی يوازی افغانستان نه بلکی مسکو او همدا رنگه د هر کفر او استکبار مانۍ به د متحدو افغانی مجاهدينو په لاس فتحه کيږی.

د فکر وړ خبره ده که په دی جهاد کی مونږ له يو نيم مليون څخه زيات شهيدان ورکړی، خو که وگورو نو زمونږ افرادی قوت نه يوازی کم شوی نه دي بلکي يو په دوه نور زيات شوي دی او زمونږ دغه نوی نسل زمونږ په نسبت ډير قوی او برجسته دي، ځکه ددوی په ذهنونو کی له کوچينوالی نه دجهاد افساني او قيصی پرتی دی او له کوچينوالی نه يی دجهاد تربيت حاصل کړ. دا د افغانستان جهاد ۇ چی مونږ ته يی قدرت، زيادت او عزت را په برخه کړ. که څوك شهيد شوی او ظاهراً له دنيا نه تللی دی خو د اسلام له نظره هغه دايمي ژوندی دی او د اينده سعادت يی په برخه دی. د مرگ خفگان له کافرو سره وی، ځکه چی د هغه دغه ددنيا ژوند ۇ او بس ختم شو او د اينده څه اميد يی نشته.

زما پيغام د افغانستان ټولو مجاهدينو ته دا دی چی دوی خپل مقدس جهاد ته ادامه ورکړی او د منافقينو او يا نورو کمونستانو په دی ډول دوکو او فريبونو ونه غوليږی او د جهاد په ليکو دبطلان او تنسيخ کرښه رانه کاږی.

نن په افغانستان کی دسياسي جوړ جاړی خبری روانی دی، خو مونږ دا وايو چی روسانو افغانستان ته د راتللو څه حق درلود چی راتلل! روسان په زور او قوت افغانستان ته راغلی دی او په زور او قوت بايد وويستل شی. سياسی جوړو هيڅکله دا نه دی کړی چی دا ډول مسايل هوار کړی، ځکه اسرايل له فلسطين څخه چا په سياسی شکل لری کړل. ملگری ملتونه له ډيره وخته راهيسې دفلسطين په سياسی جوړه لگيا دی، مگر تر اوسه يی هغو فلسطينيانو ته چی د فلسطين لپاره جنگيږی، حق ور نه کړی شو.

که د افغانستان مجاهدينو له جهاد څخه پرته بله لاره اختيار کړه، هغه به ددوی د نابودی‌او نشتوالی سبب وی. سياسی جوړه په دوه صورتونو کی کيدی شي، يوه دا چي جهاد په افغانستا ن کی ختم شی او بله دا چی د پاکستان په خاوره کی پراته مهاجرين بيرته افغانستان ته ستانه شی. تر څو چی د پاکستان حکومت افغانی مهاجرينو ته په اسلامي فکر او يا انسانی همدردی ځای ورکړی وی، مونږ د پاکستان د حکومت او مسلمانو عوامو شکريه اداءکوو، خو مونږ دا واك او اختيار دپاکستان حکومت ته نه شو ورکولی چی زمونږ جهادی مسير بدل او زمونږ سياسی روغه جوړه زمونږ له دښمنانو سره وکړی. که بالفرض پاکستان زمونږ له دښمنانو سره سياسی روغه وکړی او مونږ د خپلی خاوری څخه په وتلو مجبور کړی، مونږ بيا هم دپاکستان فيصلی ته د احترام په سترگو گورو،

مګر که چیری دپاکستان دسولی مطلب دا وی چی مجاهدین دی خپله جهادی توره په ځمکه کیږدی او جهاد دی قطع شی، دا د الله تعالی د حکم خلاف خبره ده. مونږ نه په افغانستان کی کفری حکم منلی دی او نه د پاکستان او یا نوری نړی دا ډول حکم منلی شو. د جهاد بطلان چی مونږ پړی په لکونو شهیدان او معلولین ورکړی دی، مونږ ته دشهیدانو کونډې او یتیمان ژاړی او زمونږ نه دا ارزو او امید لری چی هغه په افغانستان کی یو مسلم اسلامی نظام دی بل نه شو منلی.

دا یو حقیقت دی چی مونږ نن ظاهراً محتاج یو او د نورو مرستو ته مو لاس نیولی دی، خو د جهاد ادامه چی هغه په ایمانی وسله جاری ده، ددی د قطع کولو په باب کومه سمجوته د چا سره نه شو منلي. که چیری هغه هیوادونه چی زمونږ له مهاجرینو سره مرستی کوی او دسیاسی حل د نه منلو په سبب زمونږ سره مرستی بندی کړي، بیا هم مونږ ددغه ډول فیصلو منلو ته تیار نه یو. مونږ خپل مربی لرو او مونږ د هغه په دی وعده ایمان لرو چی فرمایي: «ومن یتقي الله یجعل له مخرجاً و یرزقهم من حیث لا یحتسبون»

څوك چی تقویٰ ولری او د بندګی په حدودو کی خپل مسؤلیت او ذمه واری سرته رسوی،الله تعالی به ددی انسان له هر ډول تکلیف نه د وتلو لار پیدا کوی، دا د الله تعالی وعده ده.

نن شیطانی قوتونه لګیا دی زمونږ ذهنونو ته هر ډول وسوسی او تشویشونه را اچوی، خو مونږ او تاسی به د دښمنانو ددی ډول دسیسو او فریبونو دفاع د ایمان په قوت کوو، ددی خبری تکرار لازمی ګڼم چی که چیرې کوم مسلمان ورور تیروځی او د دښمن دغه سازش ته غاړه کیږدی، دا ورور دی خپلو ابتدایی حالاتو ته نظر وکړی، د ملحد رژیم په مقابل کی دی مسلمانانو ته د جهاد دعوت ورکاؤ او لوږی تندی یی په غرونو کی تیرولی، ددی مقصد څه ؤ؟ ددښمن ګولیو ته دی سینه ډال کوله، دا د څه لپاره؟ وطن او کلی کور دی پرېښود او مهاجرشوي، دا د څه لپاره؟ که دا انسان خپل دا ډول تکالیف هیر کړی او د الله تعالی حکم یی په نظر کی نه وی، د داسی انسان مثال د اوبو د ځګ دی، که داسی انسان په جهادی لیکه کی وی او که نه، په جهاد د کوم زیاتی کمی اثر نه پریوځی. خو زه دغه انسان ته وایم چی ستا امنیت د دغو ملحدینو په ټولنه کی هم نشته،

هلته به بیا هم دغو کفری قوتونو ستا په څټ لاس ایښی وی او د مجاهد په مقابل کی به دی په جنګ کی استعمالوی. هغه روح چی د ملحد په سنګر کی یی له لاسه ورکوی، ولی یی د جهاد په سنګر کي په شهادت نه ورکوی چې ددنیا او آخرت دواړه افتخارات لاس ته راوړی.

د روسانو په بابله که نن نړیوال لګیا دی او د سیاسی حل لاری لټوی، د دی هیڅ ضرورت نشته ځکه روسان په یوه شپه کی راغلی دی او په یوه شپه کی دی دافغانستان خاوره اخلال کړی، په دی باب مونږ هیڅ ډول سولی او تفاهم ته تیار نه یو. مونږ د افغانستان د مسئلی د حل یوه لاره چی هغه مقدس جهاد دی؛ پیژنو او بس. زه ټولو مجاهدینو ورونو ته دا خبره کول غواړم چی دوي خپله وسله د ځان سره سمبال وساتی او ضایع یی نه کړی او همدا رنګه دا کوښښ وکړی چی د افغانستان په داخل کی ځان پخپله په خپل اقتصاد متکی کړی، تر څو د اسلام دښمنه قوتونو په اقتصادی فشارونو مجبور نه شی او خپل اصلی هدف له لاسه ور نه کړی، که څوك په دی خبره صادق ولاړ وی چی جهاد یوه افضله فریضه ده نو هغه هیڅکله هم د کفارو او مرتدینو سره سیاسی روغو جوړو ته غاړه نه ږدی.

دلایل شرعیه وحیثیت آن

تهیه و ترتیب: محراب الدین «یوسفزي»

ما در زماني قرار داریم و زندگي میکنیم که امة مسلمه در هر گوشه وکنار جهان با مصائیب و تکالیف گوناگون دست و گریبان بوده و در ورطئه تهلکه و بدبختي بسر مي برد، با وجود اینکه بعد از شکست و پارچه شدن اتحاد جماهیر شوروي روح تازه اي در امة مسلمه و نهضت هاي اسلامي و ملت هاي مظلوم و مستضعف دمید وامیدها دا شتند که شاید در افغا- نستان، که مدفن غارتگران و چپاولگران تاریخ بوده، یك حکومت ناب اسلامي تشکیل و قلبهاي مستضعفین جهان مطمئن شوند.

اما متاسفانه که مسلمانهاي صاف و صادق گول کمو نیستهاي مکار و حیله گر خورده به جان هم افتیدند و مسئله به جائي رسید که دزد صاحب خانه را در اتهام دزدي میگیرد و به پولیس تحویل میدهد،کمونیستها این جانیان تاریخ هم دزدي میکند وهم فریاد میزند، هم طرح آدم کشي را ریخته و هم دادمیزند که این مسلمانها حکومت کرده نمیتوانند(!)

عامل مهم دیگر این جنگ خانمانسوز و وباي برادرکشي به نظر من دوري غفلت ما مسلمانان از تعالیم والاي اسلام است که در عقیده و عمل دامنگیرهمه امة مسلمه خصوصاً دامنگیر افغانها شده است.

هستند کساني که باوجود شوق و علاقه وافر بادین مبین اسلام، نادانسته بزرگان و تنظیم خویش رابقدري احترام میکنند که آوامر و احکامات شریعت مقدس را در مقابل آن زیر پا میکنند و یا عوض اینکه عبادت معبود حقیقي را انجام دهند به بندگان و عباد عبادت میکنند. بناء خواستم به آنعده برادرانیکه در میاحث و مشاجرات دلایل شرعي و

حیثیت آنرا نمي دانند دلایل شرعي و مدارج آنرا روشن نمایم تا در مباحث عوض «کعبه» به «ترکستان» نروند و بدانند که هر سخن جائي و هر نقطه مکاني دارد.

بهر صورت، دلایل شرعیه بصورت عموم چهار بوده که ازجمله درسه مورد یعني کتاب الله و سنت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) و اجماع امة که همانا اجماع صحابهء کرام و تابعین و تبع تابعین (رضوان الله علیهم اجمعین) وائمه (مجتهدین رحمهم الله) بوده-علماء سلف وخلف اتفاق نظر دارند ولي در مورد دلیل چهارم که عبارت از قیاس است اختلاف موجود است، بعضي ها قیاس را حجت نمیدانند ولي بعضي علماء معتقد اند که اگر تمام شروط قیاس موجود باشد، قیاس نیز حجت شرعي محسوب میگردد.

حیثیت و مدارج این دلایل طوري است که حق تقدم به کتاب الله و سنت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) میسر است چون دلیل بودنش از امر قاطع و بلاتعطیل وتأویل الهي است، پروردگار عالم در کتاب منزل خویش به اطاعت رسول صادقش(صلی الله علیه وسلم) امر شمرده و اطاعت امر رسول خویش را اطاعت امر خویش فرموده است، ولي بدبختانه هستند کساني که با وجود ادعاي علم و دانش در مرحله اول اجماع و قیاس را از کتاب الله و سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم مقدم شمرده و در مرحله دوم سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم را در مقابل قول یك عالم و یا امام و مجتهد زیر پاگذاشته و با گستاخي تام میگویند«چون این حدیث در مذهب ما نیست فلهذا نمي پذیرم»

ما براي تحذیر این گونه اشخاص تنها یك امر الهي را یاد آور مي شویم که فرموده: «فلیحذر الذین یخالفون عن امر ان تصیبهم فتنة او یصیبهم عذاب الیم» (النور٦٣)

ترجمه:- پس بترسند کسانیکه از پذیرفتن حکم (رسول الله صلی الله علیه وسلم) ابا میورزند ازینکه برسد براي شان فتنه (دردنیا) ویاعذاب دردناك (درآخرت).

تشریح سخن اینکه فتنه وآفت دنیا اینست که در قلبهایی منکرین حدیث وسنت نفاق پدید مي آید وبه مرور زمان قلبهای شان به اندازه اي سیاه مي گردد که هدایت درآن راه نمي یابد وکار شان بجاي کشیده مي شود که مانندغلام احمد قادیاني ومعمرالقذافي به سبب اکاذیب وادعاهای نادرست وکبر وغرور خویش از ردیف مسلمانها خارج ودر قیامت عذابش نزد الهی است، پروردگار عالمیان مسلمانهارا از حال این خبیثان هم دردنیا وهم در آخرت نگاه دارد.

فتنه انکار حدیث:

فتنه انکار حدیث از جمله فتنني است که برای بار اول درقرن دوم هجري در عراق تبارز نمود وپیشتازان اول آن پیروان فرق باطله خوارج ومعتزله بودند.

آنها عقیده داشتند و

میگفتند که الله تعالی پیغمبرش را (صلی الله علیه وسلم) بخاطر رساندن و تدریس قرآنکریم مبعوث نمود و او (صلی الله علیه وسلم) نیز رسالتش را بطور احسن انجام داده است، مسلمانان مکلف اند که اعمال خود را مطابق هدایت قرآنکریم اجراء و تعمیل نمایند، آحادیث و سنت رسول الله قابل تعمیل نیستند، زیرا که یهود و نصارا اکاذیب خود را با آن آمیخته و ما نمیتوانیم که آن اکاذیب را از آحادیث تفکیک نمائیم فلهذا ضرورت به تعمیل آن دیده نمي شود.

در اصل منکرین حدیث چون علم کلِفِي و مرور بر آحادیث نداشتند و هم زیر تاثیر فلسفه هاي یوناني و غیر اسلامي آمده بودند، نمیتوا نستند ضعف عقیدوي و بغاوت از نصوص صریح اسلامي را بطور آشکارا نمایند، فلهذا بهانه جوئي و توجیهاتي را میتراشیدند و خود را مسلمانان وانمود مي کردند،تا از جانب مسلمانان آذیت نبینند، این فتنه تا آواخر قرن دوم ادامه داشت تا اینکه به اساس رشادت و مساعي بیدریغ آئمه محدثین و وعلماء تفاسیر وعقاید تدوین شد آهسته آهسته این فتنه روبه خاموشي گذاشت که عوامل عمده این خاموشه قرار ذیل میباشند:

۱- بروز آئمه حدیث و تدوین کتب صحاح سته و دیگر کتب آحادیث.

۲- آنعده آیات بینات قرآنکریم که راجع به وجوب عمل بر حدیث رسول الله صلی الله علي وسلم از جانب پروردگار عالمیان نازل و توسط آئمه مجتهدین و فقهاي کرام تصریح و تشریح شده ثابت نمودکه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم به حبثیت مربي، معلم و رهبر انسانیت و مفسر قرآنکریم و شارع و حاکم و قاضي براي بشریت مبعوث گشته است فلهذا اطاعتش نیز مطابق حکم قرآنکریم برهمه بشریت خصوصاً بر مسلمانان فرض است.

۳- تاویلهاي غلط و تصرف بي مورد منکرین حدیث راجع به آیات قرآنکریم بزوشني ثابت نمود که آنها کذاب اند و تا وقتیکه مسلمانان اعمال خویش را مطابق سنت پیغمبر صلی الله علیه وسلم تطبیق نذهند، دین کامل نمي شود.

٤- به اساس مساعي خستگي ناپذیر تابعین و تبع تابعین عقاید و ضمایر امة و اجتماع مسلمین بیدار و هوشیار گشته، اجازه ندادند که احدي خود را بنام مسلمان قلمداد و خود را ازاطاعت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) آزاد و بی نیاز تلقي نمایند و یا در مقابل سنت مطهر رسول الله صلی الله علیه وسلم فلسفه هاي کفري را ترجیح دهند.

بعد از خاموشي فتنه انکار حدیث علوّم اسلامي مانند تفاسیر، آحادیث و عقاید به اوج خود رسیدند، شروح آحادیث از نگاه روایت و درایت مشخص و در کتب تدوین و آحادیث صحیح ازغیر صحیح، وثقات از غیر

ثقات و موضوعي از غير موضوعي تفكيك شدند. بعدا در قرن سيزدم هجري اين آتش فتنه انكار حديث در هند وستان روشن شد كه رهبري اش دردست سر سيداحمدخان و مولوي چراغ علي بودو از آنها مولوي چكرالوي و امدين امرتسري و مولانا اسلم جيراج پوري وچودري غلام احمد پرويزي بوجود آمدند، پرويزي هاي امروزي در هندوستان و پاكستان و بنگلديش محصول اين شجره خبيثه بوده و هفته نامه اي را بنام «طلوع اسلام» نيز به نشر ميرسانند، همچنان معمرالقذافي رهبر كنوني ليبيا نيز پيرو اين عقيده كثيف بوده است.

عقيده مسلمانان اهل سنت والجماعت اين است كه عمل بالحديث فرض است وقتي ثابت شود كه اين امر در حديث صحيح وارد شده، در مقابل آن چون وچرا گفتن و يا اينكه «چون اين حديث در مذهب مانيست فلهذا ما نميپذيريم» از ين قبيل جوابات و يا استهزاء به عمل بالحديث موجب كفر شمرده ميشود و تمام علماء و فقها و آئمه كرام (رحمهم الله) برآن اتفاق نظر دارند.

همه آئمه مجتهدين خصوصا آئمه اربعه(رحمهم الله) پيرو كتاب الله و سنت رسول الله(صلى الله عليه وسلم) بودند و به شاگردان و پيروان خود اين توصيه مي نمودتد كه بدون دليل حرف هيچ كس را نپذيرند. آئمه كرام تماما مسايل و احكام را از كتاب الله و سنت رسول الله صلى الله عليه وسلم استنباط و استخراج مي نمودند، حتي به اندازه يك سر موهم عملا از سنت و حديث خلاف نكرده اند، اگر آحايث و سنت رسول الله صلى الله عليه وسلم نمي بودند،آئمه مجتهدين قادر به استنباط احكام، مثلا احكام آب، طهارت، ركعات اوقات نماز،تكبير، اذكار، تسبيحات، قيام، ركوع، سجده، قومه، جلسه، نمازهاي عيدين، جنايز، خسوف وكسوف، استسقاء، خوف وغيره وهمچنان نصاب زكوة و اركان روزه وحج وبيع و نكاح وقصاص و ديگر نخواهند بود، فلهذا نتيجه اين شد كه دين بدون عمل بحديث ناقص است كامل شده نمي تواند.

تاكيدآتي كه آئمه مجتهدين در مورد عمل، بحديث نموده بطور نمونه و مثال قرار ذيل تحرير ميگردد:

١- امام ابوحنيفه (رحمه الله)ميفرمايد:«اذاصح الحديث فهومذهبي» (شامي-ج١-ص٥٠)

ترجمه: وقتي حديث صحيح شود يعني حديث صحيح برايم برسد، آن مذهب من است.جائي ديگر ميفرمايد: «لايحل لأحد أن يأخذ بقولنا مالم يعلم من اين اخذناه» (لانتقاء-ص١٤٥).

ترجمه:حلال نيست براي هيچ كس كه عمل به گفته ماكنند تا آنكه برايش معلوم گردد كه ما اين قو ل را از كجا گرفته ايم.

٢- امام مالك(رحمه الله) ميفرمايد: «انما انابشر اخطي واصيب فانظر راني رآي فكل ما وافق الكتاب والسنة فخذوه و كل مالم يوافق الكتاب والسنة فاتر كوه» (الجامع لابن عبدالبر-ج١ -ص٣٢).

###

د اصلي اهل سنتو دعوت

دوهمه برخه:

مونږ ددې په ځاي د مسلمان لفظ استعمالوو، خو څرنګه چه د «بني ادم» اصلي نوم «انسان»دي مګرددي د پيژندني او شهرت لپاره پرې مختلف نومونه ايښودل شوي دي نو پدې خاطر دهيچا اعتراض نشته.

پدې ډول بي له شکه چه اصلي نوم مسلمان دي مګر د پيژندني او شهرت لپاره او يادکوم بل امتيازي او خصوصي صفت پخاطر که ورته کوم وصفي نوم استعمال شي نوکوم باك او فرق نه کوي.

لکه څرنګه چه په قرآن پاك اوآحاديثو کي مسلمانانو ته مؤمنين، قانتين، مجاهدين، مهاجرين، انصار،عباد الرحمن، صحابه، تابعين،اهل قرآن، اهل بدر، حزب الله، اصحاب الشجره، نبيين ،صديقين، شهداء، صالحين او داسي نور نومونه استعمال شويدي.

د ترجيحي تعلق په لحاظ چه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له احاديثو سره يوه طبقه مسلمانان خصوصي شغف څرګندوي د علم حديث په کتابونو کي په «اهل حديث» يا «اصحاب الحديث» ياد شوي دي، خومونږ داويل غواړو، چه بايد نوم نه بلکي کار او عمل په نظر کي ونيول شي يعني داسي عمل بايد تر سره شي چه د اسلام په ضد او د اسلام له چوکاټ نه بهر واقع نه شي.

زمونږ د چاپه حنفي، شافعي يا جعفري نومونو اعتراض نشته، اختلاف او اعتراض د قرآن او سنت د خلاف ورزي په صورت کي را پيدا کيږي. څوك چي د الله تعالى او دهغه د رسول صلى الله عليه وسلم لار پريږدي او د نورو تقليد کوي، دا کار د اسلام خلاف عمل دي. افسوس چي د مسلمانانو جماعت د تعصب، تنګ نظرۍ او فرقه واريت ذهنيت له مقلدينو څخه واخيست يعني د فرقه واريت مخالفت يوازي د يوي لفظي جګړي څخه منځته راغي او په حقيقت کي يوه فرقه وګرځيدله او هغه اوصاف پکي راپيدا شول، کوم چي په مقلدينو کي وو او د مقلدينو په شان يي د خپل لارښود کور کورانه پيروي کوله.

هغه مسلمانان چي په ځان يي د جماعة المسلمين نوم ايښي دي، يوازي دوي مسلمانان دي او نور ټول غيرمسلم دي. حتیٰ په اهل حديثو پسي يي لمونځ کول هم جايز نه ګڼه، ددي دا مطلب دي چي له بارانه بچ شول د ناوي لاندي کيناستل.

ورونو! د غير مسلمو په وړاندي مونږ ويلي شو چي مونږ مسلمانان يو، خو پخپل منځ کي زمونږ د پيژندني لپاره يوازي د مسلمان لفظ کافي نه دي، د مسلمان لفظ يو داسي لفظ دي چي له حديثو څخه منکرين يي هم ځانته وايي. ميرزايان هم ځانته مسلمانان وايي او صحابه-

ۇ ته ردبد ویونکي شیعه هم ځانته مؤمنان وایي. ددي تفرقه بازي په وخت کي که له چانه پوښتنه وکړي چي ته څوك ئې؟ په ځواب کي هر یو وایي چي زه مسلمان یم. ځواب خو سم، دي مګر دا فرق نه کیږي چي کوم ډول مسلمان دي، دا ځواب پدي ډول ناکافي او نیمګړي دي، ځکه ته چي د کومي پوښتني ځواب غواړي هغه په تمامه معني نه حاصلیږي، لکه چي ته د یو شخص تعارف ځانته کول غواړي او هغه صرف دومره وایي چي زه انسان یم. نو د اهل حدیث د کلمي څخه هر ډول غلط فهمي لري کیږي او ددي نه دا معلومیږي چي دا هغه شخص دي چي یوازي او یوازي د الله او د الله د رسول صلی الله علیه وسلم د حکم منونکي دي او د قرآن او سنت نه پرته نور هرڅه رد کوي، اهل حدیث ویل نه یوازي داچي د پیژندګلوي یو ضرورت دي بلکي په نني وخت او زمانه کي جهاد دي، دا د فرقه واریت او توکمیت په خلاف یو خلاص چیلنج دي او په دي کي د بدعت هیڅ ډول دخل او چکر نشته.

په تیر بحث کي د تقلید په باب خبري وشوي ، مونږ د موضوع د روښانه کولو لپاره د قرآن پاك له دي مقدس آیت څخه استدلال کوو چي فرمایي:

«فا سئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون» (سورة انبیاء-۷)

یعني که تاسي نه پوهیږئ، له اهل علمو څخه پوښتنه وکړئ . له دي څخه څرګنده شوه چي تقلیدکول د جاهل ضرورت دي او بله دا چي د څلورو امامانو (رحمهم الله) څخه وروسته ټول محدثین، فقها او علماء کرام ځانونه د دي څلورو امامانو له جملي څخه د یوه مقلدین او پیروان ګڼي .دلته سوال دا پیدا کیږي چي آیا دا ټول د جاهلا نو له جملي څخه دي؟ آیا د دوي له جملي نه هیڅوك دشرعي دلایلو له احکاماتوڅخه د اخذ کولو استطاعت نه لري ؟ که د کوم محدث یا امام په باره کي مونږ دا ټکي زیات کړو چي فلاني شافعي دي، حنبلي دي اویا مالکي دي، د دي دا مطلب دي چي نوموړي له دغي مدرسي څخه فار غ دي، د دي دا مطلب نه دي چي فلاني د فلاني امام مقلد دي. مثلاً ندوي، علیګ، رحماني، سلفي او داسي نور. دحنفي فقهي په کتابونو کي چي د تقلید کوم تعریف شوي دي چي پرته له دلیل څخه د مجتهد خبري منلو ته تقلید وایي. دا تعریف به کوم محدث ،کوم فقهي او کوم امام ومني شاید دوي به داسي فکرکوي چي انسان به یا مطلق جاهل وي اویا مطلق مجتهد. اومطلق مجتهدین په دي امت کي میاندو یوازي دا څلور زیږولي وو او بس اود پنځم لپاره د خانداني منصوبه بندي،عمل ترسره شوي دي.

څرنګه چي د دوي دا خبره غلطه ده چي مجتهد ین د دي څلورو څخه زیات نشي کیداي ،دغه ډول د دوي دا خبره هم سمه نه ده چي د جاهل او مجتهد په منځ کي د حد فاصله نشته . آیا دا ټول شیوخ الحدیث او علامه ګان مطلق جاهلان دي؟ دا څومره ناقصه او غیرمنطقي خبره ده چي یو انسان دي په یو وخت کي عالم ، علامه او شیخ الحدیث هم وي او مقلد هم ، ځکه د دغه عالم کلمه دجاهل د کلمي مترادفه ده.

سمه او ریښتیني خبره دا ده چي د جاهل لپاره هم د

تقليد كولو دليل نشته، ځکه قرآن پاك لكه څنگه مو چي ولوست، د دغه آيت شريف څخه دا استدلاليږي «چي كه نه پوهيږئ له پوه او عالم څخه پوښتنه وكړئ».

اوس سوال دا پيداكيږي چي د دي مسئلي پوښتنه او تپوس له چانه بايد وشي؟ كه مونږ د نبي كريم صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه پدي خا طر نه شوكولاي چي هغه وفات دي نو آيا څلور امامان (رحمهم الله) ژوندي دي چي پيروي ئي كيږي؟ افإئن مت فهم الخالدون. (انبياء -٣٤)

ځيني وخت مقلدين يوازي د يوي مسئلي د پوښتلو له امله اهلحديث هم مقلدين ثابتوي، حالانكه د يوي مسئلي پوښتل د هر عام وگړي ضرورت دي، كه هغه اهل حديث وي او كه غير اهلحديث مگر كه يو اهل حديث د خپل عالم نه د يوي مسئلي د پوښتلو په وجه ځان د هغه مقلد نه جوړيږي نو په ترتيب سره د خپل امام كه هغه امام ابوحنيفه (رحمه الله) وي او كه شافعي (رحمه الله) څو هغه د هغه مقلد جوړشي، ځكه هغه عالم ځان د امام په نظر پسي منسلك كړي وي. اهل حديث هم څرنگه د خپل عالم مقلد جوړيدي شي؟ مونږ په ځواب كي وايو چي كله يو اهل حديث د خپل يو عالم يا مفتي نه د يوي مسئلي پوښتنه كوي، په ځاي د دي چي د امام ابو حنيفه(رحمه الله) يا د امام شافعي(رحمه الله) يا كوم بل امام قول معلوم او عمل پري وكړي نو كوم حرج دي؟

آخر په دي كي كوم مشكل دي؟ آيا شيخ الحديث ته حديث راځي چي هغه ته شيخ الحديث ويل كيږي؟

دا پروپاگنده كيږي چي كه د قرآن او سنت نه مستقيماً استفاده وشي نواختلاف منځته راځي. له دي امله مونږ د شخصي تقليد په لمن كي پناه اخستي ده، چي له اختلاف څخه بچ او گوښه پاتي شو. د مقلدينو له دغه نظر څخه معلوميږي چي قرآن او حديث اختلاف پيداكوونكي شيان دي او د امامانو تقليد اتفاق پيدا كوو نكي دي. حالانكه نبي كريم صلی الله عليه وسلم د قرآن او حديث په ذريعة دنړۍ قومونه د يوبل سره تړلي وو. كه د مقلدينو كتابونه وكتل شي نو شايد چي يوه صفحه به يي هم له اختلاف څخه خالي نه وي.

دحضرت امام ابوحنيفه (رحمه الله) نه وروسته دومره اختلافات پخپله د امام صاحب مقلدينو راپيدا كړي دي. يعني امام يوسف (رحمه الله) او امام محمدبن حسن (رحمه الله) نه وروسته د دغه اختلاف سره سره دڅلورو واړو فقهو تر منځ كومه رسه كشي موجوده ده، دا له دي نه علاوه ده. د دي خبري مطلب دا دي چي په مسلمان امت كي اختلاف په قرآن او سنت د عمل كولو نه نه دي پيداشوي بلكي د قرآن او سنت څخه پرته د نورو له تقليد څخه راپيداشوي دي. زمونږ حنفي ورونه له يو طرفه وايي چي تقليد په هغه صورت كي جايز دي چي كله پريوه مسئله قرآن كريم، احاديث نبوي او د صحابه كرامو اقوا لو صراحتاً څه رڼا نه وي اچولي او دا دعوه كوي چي ټول مقلدين په غير منصوص مسايلو كي تقليد كولي شي او عملاً دا حال دي . مثلاً دبيع الخيار (اختياري بيه) مسئله ده، په دي باندي د نبي كريم صلی الله عليه وسلم ښه صفا حديث موجود دي چي له جدا والي څخه مخكي د

بابع يعني خرڅوونکي او اخستونکي د معا ملي د واپس کولو اختيار موجود دي. (عن ابن عمر رضي الله-بخاري ومسلم)

بناغلي مولانا محمودالحسن ديوبندي صاحب وايي چي د حق او انصاف خبره داده چي په دي مسئله کي شافعي مسلك قوي دي نو ځرنگه چي مونږ د امام ابو حنيفه (رحمه الله)مقلدين يو او د ده تقليد پر مونږ واجب دي. (تقرير-ترمذي) يعني شيخ الهند يوازي د تقليد له امله د صحيح حديث منلو نه معذرت ظاهروي.په دي ډول دوکي ورکولو لپاره که چيري زيات شيدي کوونکي څاروي د اخستونکي په نظرراشي، د څاروي په غولانځ کي دشيدو د جمع کولو مسئله ده ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم د داسي څاروي بيه د واپسۍ قابله فرمايلي ده او د شيدو د عوض په باره کي يي يو صاع (د دوه نيم کيلو گرامه کجوري (خرما) د ورکولو حکم يي کړيدي. (عن ابي هريره رضي الله عنه- بخاري-مسلم) همدارنگه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد دي (من غش فليس منا) يعني هر هغه چاکه دوکه وکړه زمونږ له جملي ځخه نه دي.(مسلم) مگر امام ابوحنيفه (رحمه الله) فرمايي:(ليس له ان يرد ها والتصرية ليست بعيب عندنا) يعني اخستونکي ته د بيرته واپس کولو اختيار نشته، ځرنگه چي د څاروو په غولانځوکي د شيدو جمع کول زمونږ په نزد عيب نه دي.(فتاوي عالمگيري ج-۳ص-۷۲) د دوي په نزد دحضرت ابوهريره او حضرت انس بن مالك رضي الله عنهم غوندي اصحابو کرامو روايت شوي نبوي احاديثو ځخه د خپل امام قياس مقدم گڼي. (اصول اشاشي)

يعني د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث رد کوي او د امام په قول عمل کوي. (معاذ الله)

ابوالحسن عبيدالله کرخي ليکلي دي چي کوم آيت يا حديث زمونږ د اصحابو يعني ايمه ؤ خلاف وي، د دي تاويل دي وشي او يا دي منسوخ وگڼل شي. (اصول کرخي ص- ۲۸-۲۹) همدارنگه ابوزيد عبدالله د بوسي حنفي په خپل کتاب «تائسس النظر» په ص۶۳ مخ کي ليکلي دي:(کل ايةتخالف قول اصحابنا فانها تحمل علي النسخ او علی الترجيح) يعني هر هغه آيت چي زمونږ د امامانو له قول ځخه خلاف وي، هغه دي منسوخ يا مرجوح وگڼل شي.

نو اوس قضاوت وکړي چي له دي ځخه لوي کفر نور کوم دي؟ دا ډول محمود الحسن حنفي شيخ الهند په خپل کتاب«الايضاح الادله»کي د تقليد په حمايه کولو قرآني آيت تحريف کړي او پخپله ئي دا ډول اضافه پکي کړي: (فإن تنازعتم في شئيء فردوه الی الله والرسول و إلی (أولي الأمرمنکم) يعني که په کوم ځيز مو پخپلو کي جگړه راشي، نو د فيصلي لپاره د الله تعالی او رسول (صلی الله عليه وسلم) او خپل أوالأمر ته رجوع وکړي؟

رانه څه غواړي نور!

لعل محمد «افسوس»

زما د ژوند لار کې ولاړ دیواله
دا لاره پریږده رانه څه غواړي نور
د هر ارمان غوټۍ تنکۍ خاورې شوي،
مالیاره پریږده رانه څه غواړي نور
ما خو تکل د یو منزل کړی ؤ،
هغه منزل چه څه د ژوند مقصد ؤ
هغه تالا والا شو ستا له لاسه،
ما خواره پریږده رانه څه غواړي نور
خلك د ننګ په وینو فخر کوي،
تري پښتني نجونه خالونه ایږدي
خو تا پرې کار د شرمخانو وکړ،
خونخواره پریږده رانه څه غواړي نور
نه دي اولاد نه مور او پلارشته پکې،
چې دي څه رحم ورته زړه کې راشي
ښایسته خوانان دي په سوراورکباب کړل،
جباره پریږه رانه څه غواړي نور
ځوانان او پیغلې په پردي وطن کې،
هم یتیمان کوندې آرزو څه وکړي
چاته فریاد وکړي د لاس د نیوو،
اضراره پریږده رانه څه غواړي نور
مال مي تالا وطن مې لوټی لوټی،
د مستقبل څه امید پاتې نه شو
چې څه دې کړل هغه دې وکړل بس دي،
لوټماره پریږده رانه څه غواړي نور
په«افسوس» هره شپه د غم تیریږي، د نوي غم سهاره مه رادرومه
په انتظارکې دي ستې ستې کړم، سهاره پریږده رانه څه غواړي نور

په تیر پسی

په اسلام کې د حجاب حکم او ارزښت

د زاهدی احمدزی لیکنه

بیانو د یو بل کورته تگ راتگ پیل کړي،او کله چې د دوي تر منځ دغه تلل راتلل زیات شي نو د نارینه ؤ له دوستي سره سره د ښځو دوستي هم پیل کړي، او هغه داسي چې دغه د میړه اجنبي دوست ته ستړي مشي ورکوي او روغبړ ورسره کوي، په لومړیو تلو راتلو کي خو پلو ورڅخه نیسي او څه ناڅه حیا ورڅخه کوي مگر بیا سوکه سوکه مخ پټوني پریږدي، خندا ټوکي تکالي هم ورسره پیل کړي .

سربیره پردي په ځینو سیمو کي خو داسي هم دي چي یوه خونه ولري نو کله چي دغه بیگانه دوست ورکره ورشي او د شپي پاتي شي نو په هماغه یوه خونه کي ئې له ځان سره شملوي .

لنډه دا چي لکه د کهول د نسبي غړي په شان ناسته ولاړه ، ملاسته او هر څه له دغو نامحرمو سره کوي. او دغه عمل په ډیرو اسلامي قامونو کي یو بي تکلفه عمل گڼلي کیږي. پداسي حال کي چي کله نا کله دغه ډول ناسته ولاړه د عفت د منافي حرکاتو، فحشاء او د متقابله احترام د له منځه تللو باعث او د داسي ناوړه چاروکولو ته منتج شي چي قلم ئي په لیکلو شرمیږي. دا ځکه چي زیات وختونه په کور کي صرف ښځې وي او د ناوړه ارادي نارینه له داسي فرصت څخه سوء استفاده کوي،او د دوستي په پلمه خپله شومه موخه سرته رسوي، د نفس اوهوا د خوښي له پاره هر څه شاته وغورځوي.

له مزدورانو او بزگرانو سره گډ کار کول:

لکه څرنگ مو چي د مخه یادونه وکره ځیني وگړي د خپلو کورنیو چارو له پاره مزدوران او د کرهنې له پاره بزگران نیسي او هغوي کار ورته کوي، په عوامو کي زیات وگړي داسي دي چي د هغوي دکهول ښځې له دغو مزدورانو او بزگرانو څخه انگړنه کوي ، د کهول پیغلي او مروښي یو ځاي کار ورسره کوي، درمندونه ورسره میده کوي، گیډي ورته پورته کوي، پرانستي سیني لوونه ورسره کوي، ډوډي او چاي ورډوړي او د محرم له موجودیت څخه پرته ناسته ولاړه، خبري اتري او خواله ورسره کوي، په کړس کړس خنداگاني ورسره کوي.

ښځې په کورونو کې د خدمتگارو په توگه:

په ځیني ښتمنو او بداي کورونو کي د بیوزلو کورنیو مروښي، پیغلي او نیمچه پیغلي نجونه مزدوري کوي او د هغه له زلمیانو او پخو نارینه ؤ څخه هیڅ انگر نه کوي، بلکي ځیني بد عمله نارینه په دغو خوارانو ځانونه هم چاپي کوي، په غسلخانوکي چي لامبي، جامي اوبه او نور د اړتیا وړ ځیزونه هم له همدوي څخه غواړي او هغوي ئي د مجبوریت پر اساس امر

قبلوي او كه ئي و نه مني نو معلومه خبره ده چي له مزدورۍ څخه ئي شړي.

له ګاونډي څخه بې ستري:

ځيني خلك د ګاونډيتوب له امله يو له بل څخه پرده نه كوي او نه ضرورت ورته احساسوي، ښځي له نارينه ؤ سره خبري اتري، لوښ مخونه ناسته ولاړه ، يو د بل كور ته تلل راتلل كوي ، ان تردي چي كه د كهول ميرمن نه وي نو د ګاونډي ښځه ورځي پخلي ورته كوي،پداسي حال كي چي په كاله كي دوي دواړه دوه په دوه او خلوت وي.

له ځيني نورو وګړو څخه بې ستري:

دغه راز د جومات له ملا صيب ،له طالبانو،ملنګانواو پيرانو څخه هم ځيني ښځي مړوښي وي او كه پيغلي پرده او حجاب نه كوي له كوږ ګرانو، نجوميانو، فال كتونكو او كاهنانو، غيب ويونكو او جادوګرو څخه خو بيخي پلو نه نيسي او د خپل كهول محرمان ئي ګڼي، د پيرانو او د جومات د ملاصيب لاسونه مچ كوي، ملاصيب ته جومات ته ډوډۍ وروري.

يو بل ناوړه دود:

په ځيني قامونو كي يو بل ناوړه او ناروا دود هم شته او هغه دا چي ځيني نارينه او پردۍ ښځي يو بل ته د ورورۍ، پلارتوب او لورتوب لاسونه وركوي، او بيا پدي عقيده چي دا خو په خپل منځ كي د لورتوب او خورتوب په وزله سره محرمان شول د ښځي د كورني يوه ښځه هم ستر ور څخه نه كوي. دا خولاڅه كوي چي دده له ورونو، ځامنو او نورو خپلوانو څخه هم پوده نه كوي او دصلبي خپلوانو په څير له حجاب څخه پرته راشه‌درشه‌سره‌لري.

دغه راز د جاهليت د زوي توب ناوړه دودهم په ځيني قامونو كي رواج لري او هغه داسي چي يو څوك پردي هلك واخلي هغه وروزي او كله چي بالغ شي نو د خپل اصلي زوي په څير ژوند ژواك ور سره نه كوي، د پرديو لوڼو د روزلو هم همدغه كار دي، د دغه كورچي دا پكي لويه شوي وي له هيڅ يو نارينه څخه حياء او پرده نه كوي.

د الهي احكامو په رڼا كي د پورتنيودودونو ترديد:

د اسلام سپيڅلي دين د كورني نظام او ټولنيز نظام په شرعي قوانينو كي پورتني ګرد دودونه حرام، ناروا، جاهلي او غير شرعي ګڼلي شوي دي، ځكه چي دغه ټول د حجاب او پردې د الله تعالي د فرض كړاي شوي حكم او قطعي نص په خلاف دي، چي دا دي د عوامو پورتني دودونه له دلائلو سره ترديد او غندلي شي:

الف: د عوامو دا دليل غلط او بي ځايه دي چي وائي : ستر او پرده كول صرف د علماؤ، روحانيونو او لويانو كار دي. ځكه چي الله تعالي ستر پر ټولو مؤمنو ښځو فرض كړي دي، او هر هغه مؤمنه او مسلمانه نجلۍ چي د بلوغ منګ ته ورسيږي پر هغي باندي ستر داسي فرض دي لكه پنځه وخته لمونځ او د رمضان روژه او نور اسلامي اركان چي پري فرض كيږي او د الله تعالي دا حكم عام او مطلق دي چي فرمائيلي ئي دي: «وَ قَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَ لَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ وَ اَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ.....»(احزاب-٣٣)

او اي ښځو! په خپلو كورونو كي قرار ونيسئ او مه ښكاره كوئ ښايست خپل بيګانه سړيوته،د اظهار او ښكاره كولو د جاهليت د رومبنيو ښځو په شان، او لمونځ قائم كړئ او زكات وركړئ اود الله تعالي او د هغه د رسول اطاعت وكړئ.

الله تعالي په پورتني مبارك آيت كي پر لمانځه باندي هم حجاب مقدم كړي دي، دا ځكه چي د مؤمنو ښځو د لمانځه دصحت له پاره حجاب شرط دي. ځيني تفسير پوهانو ويلي دي چي قرن له وقار څخه اخستل شوي دي، او له هر يو څخه چي واخيستل شي موخه يوه ده او هغه دي ستر او حجاب .

نو د الله تعالي په دغه پورتني حكم كي ټولي ښځي شاملي دي.

(نور بيا)

مولوي عبدالله «ذاکري» وويل:

په افغانستان کې اوسني وسله واله مقابله غير شرعي ده

غربيان نه غواړي چه په افغانستان کې اسلامي حکومت جوړشي

ملګرې ملتونه دي د صلحي په عمليه کې د همکارۍ کردار اداء کړي.

د هيواد د عالمانو ، قومانداناتو او د نظر د خاوند انو سره دمرکو په لړکي د دعوت د مجلي خبريال دا ځلي په کويته کي د افغانستان د عا لما نو دټولني دمشر مولانا عبدالله «ذاکري» سره اختصاصي مرکه کړي او د اوسني کړکيچن حالت د رغون او د بحران دپيداکيدو په باره کي ئي په لاندي متن سره تفصيلات ورکړيدي.

پوښتنه:- د افغانستان اوسني سياسي صورت حال څنګه څيرئ، اودغه بحران ولي پيدا شوي دي، عوامل اوانګيزه ئي څه ده ؟

ځواب- د افغانستان. اوسني اختلاقات او مقابله غيرشرعي ده او هيڅ د برداشت او زغملو وړنه ده، د موجوده مشکلاتو او سياسي ويجاړتيا عوامل داخلي او خارجي دواړه وجود لري چي حالات ئي دکنترول څخه خارج کړي او عمومي ناتاريي په هيودوالو مسلط کړي دي، د داخلي عواملو له جملي څخه دبناغلي صبغت الله مجددي معافي کمونستانو ته او د استاد رباني او انجينر حکمتيار له طرفه هغوي ته په خپلوصفونو کي ځاي ورکول او حمايه کول دي.

ځرګنده خبره ده دغي دلي چي څه د لاسه کيدل هغه ئي وکړل او څومره چي لازم وو د اسلامي حکومت دجوړولو په لاره کي ئي د نفاق او شقاق تخم وشيندۀ .

دخارجي عواملو په لړکي بايد وويل شي چي دنړۍ اکثره هيوادونه په تيره بيا ګاونډي هيوادونه د امريکا په مشرۍ دمشکلاتو په راپيداکيدو کي لوي لاس لري او نه غواړي افغانستان يو ځواکمن او اسلامي ملك جوړ شي. امريکا اومتحدين يې اوس دا خبره په ډاګه کوي چي يوازې اسلام او اسلامي حکومت زمونږ د لاري خنډ جوړيږي او د يو لوي او ساري خطرپه حيث يي ګڼي.

خاصتاً د افغان مجاهدينو څخه زيات په تشويش کي دي ،

داڅکه چي دشلمي پيړۍ فرعونيان او نمروديان چي په ټوله نړۍ باداري کول غواړي لکه انګريزي استعمار او شوروي سرطان دالله جلت عظمتهٔ په نصرت او د افغانستان د اسلامي سرتيرو دتوري په برکت يو پربل پسي محوه او دتل دپاره دا مردار تغر د نړۍ څخه ټول شو او انشاء الله تعالی چي دغه مبارزه به نوره هم دوام وکړي. دهمدي سرتيرو برکت ؤ چي اوياکلن محبوسين آزاد شول، المانونه، يمنونه وغيره سره يوځاي شول. امريکااو ملګري يي دا فکرکوي که چيري افغانان اسلامي مضبوط حکومت جوړ کړي نو امريکابه هم دشوروي په شان دخطر اوتجزيه کيدو سره مخامخ او همغه شان به وشرميزي او د سياسي ماتي په ډګر کي به يي زور اوبه شي.

څکه نوهر قسم فساد او تخريب يي چي دلاسه پوره شي هغه کوي کله هم مستقيم او کله هم په غير مستقيم ډول سره د سياسي ناتار اوغوبل په جوړولو سره يو مسلمان په بل مسلمان اويومجاهدپه بل مجاهد وژني.

پوښتنه:- ددي دپاره چي موجوده جنګي حالت معمول ته راوګرځي او دايمي دزبندي وشي څه کول پکاردي ؟.

ځواب: ددي پوښتني ځواب بيخي روښانه اوڅرګند شوي دي اوهغه دا چي جهاد د اسلامي حکومت دقيام د پاره شوي دي . هرکله چي دجهاد په اهدافوعمل وشي او د رهبرانو شخصي غرضونه نفي کړي شي د قدرت نيولو مسابقه پاي ته ورسول شي او دالله په ځمکه دالله د قانون د تطبيق او د قرآن او سنت د حاکميت د پاره زمينه برابره کړي خود بخوده جنګونه پاي ته رسيزي اوحالات د معمول مطابق ته راګرځي يا په بله وينا د اسلام د اصولو مطابق د اسلامي حکومت جوړول اوچلول د موجوده مشکلاتو او بحران د حل وفصل يوازيني غوڅه لاره ده.

پوښتنه:- دصلحي دبيلابيلو تحريکونو په لړ کي د ملګرو ملتو دخاص نماينده ښاغلي محمود مستيري او دکويټي د مشورتي جرګي فعل وانفعالاتو ته په کومه سترګه ګورئ؟

ځواب-دملګروملتو اداره يوه غير اسلامي اوغيرمستقله اداره ده چي مستقيما د امريکا تر نفوذ لاندي کار کوي ، که څه هم اسلامي ملکونه او نماينده ګان پکي شته دي خو هغه مغلوب او کمزوري دي، کومه دعوه چي دوي د بشر د حقوقو د اعاده کولو د پاره کوي هغه نړيوالو وليدل چه په فلسطين، عراق ، الجزاير، سوماليا ، بوسنيا ، کشمير هيتي اونورو هيوادونوکي يي څه وکړل د ظالمو اسرائيلو سره څه حمايت لري او دمظلومو ملتونو څومره لاس نيوي ئي کړيدي؟ نور نو دنياوال د ملګرو ملتو اداري ته د بي طرفي اداري په حيث نشي کتلي. د بله طرفه دشرم خبره ده چي امت مسلمه عموماً او خاصتاً بيا هغه قوم چي د الله جلت عظمتهٔ ددي لوي کتاب

(قرآن) دحفاظت دپاره يي په لکونو بچيان قرباني کړل، بايد ووايم چي د الله د کتاب په موجوديت کي چي د يو مکمل قانون اوضابطه حيات په حيث پکي د بنده گۍ او زندگۍ ټول اصول شته دي.نو دغه قوم به څرنگه دخپلو مشکلاتو دحل دپاره نوروطاغوتيانو ته مراجعه وکړي .

دالله تعالي دغه کتاب په صراحت سره هغه څوک مؤمن او مسلمان نه بولي چي کافرته دحکم او قاضي صفت ورکوي او خپل اختلافي او متنازع فيهامسائل دوي ته پيش کوي . په دي باره کي د قرآن کريم دسورة النسا ۵۱-۵۹-۶۰-۶۱-۶۵-او ۱۳۹-۱۴۱ نمبر آياتونه بايد وکتل شي اوهغه کفايت کوي، فلهذا دملگروملتو ټولني ته د فيصلو سپارل اوتفويض نه شرعاًجواز لري اونه دهغوي څخه دخير او اميد توقع کيدلي شي. تره کي او ملگرو يي يوازي روسانو ته زمينه برابره کړه د روسانو مداخلي په افغانستان کي هغه څه وکړل چي جهان وليدل اوعواقب يي څه شول؟ پر تره کي او ملگرو به يي ترابده افغانان لعنت وايي. اوس هم هغه څوک چي شوروي، امريکا ،انگليس ،چين اوحتي چي دټولي دنيا کفارو ته په افغانستان کي د مداخلي زمينه برابروي هغه څوک به څنگه د لعنت، نفرت، محاسبي او مجازات څخه خلاص شي .

پوښتنه: د ملت اکثريت او دتنظيمونومشران د لوئي جرگي د لاري په يو عبوري حکومت راضي شوي دي، ستاسو په نظردغه عمليه به څنگه عملي شي؟ په لنډو ټکو کي يي توضح کړي ؟

ځواب: شخصاً زما نظر خو په اوسني سياسي او نازك صورت حال کي دا دي چي استاد رباني دي بايد قدرت مولوي محمدي مولوي خا لص او يا بل هرهغه څوك چي په جنگ کي ملوث نه وي او خلکوته د منلو وړ وي خوشي کړي، وروسته بيا هر هغه چاته چي قدرت وسپارل شي بيا دي د افغانستان نخبه او متبحر عالمان، شخصيتونه د ملت د ټولو اقشارو څخه چي په ملي او اسلا-مي مواصفاتو برابر وي د يوي لوئي اسلامي جرگي دپاره رادعوت شي چي په دي جرگه کي بايد د ترکيب له مخي په سلو کي پنځوس جهادي قوماندانان په سلو کي شل علماء او په سلو کي ديرش قومي مشران او دانشمندان وي.

د دي وروسته چي دغه عمليه سرته ورسيږي بيا دي افغانان مخي ته شي او د ملگروملتونو د صلحي د هيئت مشر او نور خارجي او افغاني مشاورين دي دملاتړ او تائيد د پاره خپل کردار ادا ء کړي.

والسلام

حضرت طفیل بن عمرو الدوسي (رضي الله عنه)

د صحابه ؤ (رضي الله عنهم) ژوند ته یوه لنډه کتنه

د عبد الغفار ژباړه

حضرت طفیل بن عمرو الدوسي(رضي الله عنه)د جاهلیت د زماني یو نامتو سردارؤ، هغه د بهادري،برسیره یو سخي انسان هم ؤ. په لاره تلونکو مسافرو لپاره به ئي همیشه لنگر جاري ؤ. د ده د دروازي څخه هیڅکله څوك بې نوا ندي رخصت شوي،پناه غوښتونکو له به ئي پناه ورکوله او هغوي له به ئي د مرستي داډگیرنه ورکوله.

حضرت طفیل(رضي الله عنه) یو ذهین او اوچت ادیب ؤ،په مجلس کي به د ده خبرو همیشه په ناستو خلکو ډیر زیات اثر کولو.

حضرت طفیل(رضي الله عنه) خپل پلارني کلي«تهامه» پریښودلو او مکي ته راغي، دا هغه وخت ؤ چي هر یو فریق به دا غوښتل چي خپله ډله ټپله زیاته کړي تر څو په راتلونکي وخت کي د دوي سره په جگړه کي مرسته وکړي.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خلك د حق طرف ته رابلل او په دغه لار کي د هغه اصلي وسله پوخ ایمان او په حق کامل یقین لرل وؤ.بل خوا قریشو دا کوشش کولوچه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دعوت ختم کړي او د همدي کار لپاره ئي شپه او ورځ په ځان یوه کړي وه. قریشو به په هر ځاي کي دا ډنډوري غږولي چي د دغه جادوگر (رسول الله صلی الله علیه وسلم) دعوت قبول نکړئ.

حضرت طفیل (رضي الله عنه) د«تهامه» نه مکي ته پدي نیت نه ؤ راغلي چي گوندي زه دي د حضور (صلی الله علیه وسلم) او قریشو پدي کشمکش کي برخه واخلم ، بلکه په لاشعوري توگه پدي معرکه کي ورگډ شو. نو پدي وجه د حضرت طفیل(رضي الله عنه) دا نه هیریدونکي داستان د اوریدو وړدي.

حضرت طفیل(رضي الله عنه) فرمائي: زه چي کله د«تهامه» نه مکي ته راورسیدم نو د مکي قریشو زما ډیر ښه هر کلي وکړ او په ډیر عزت ئي مکي ته راوستلم.د قریشو سرداران او سپین ږیري راټول شول او ما ته ئي وویل اي طفیله ! ته خو مکي ته راغلي خوډیر زیات محتاط اوسیږه ځکه پدي ښار کي یو تن د نبوت دعوه کړي، هغه زمونږ د پلار نیکه اصلي دین باطل گڼي ، دغه سړي زمونږ په منځ کي نفاق غورزوي او غواړي د قریشو قوم تس نس کړي مونږ ځکه تاته خبر درکړو چي چیري دغه مصیبت ستا په قوم نازل نه شي، زمونږ تاته دا مشوره ده چي د دغه سړي سره د لیداو هڅه ونکړي او نه ئي چیري خبرو ته غوږ کیږدي، ځکه د هغه په خبرو کي د جادو اثر دي او په انسان داسي اثرکوي چه پلار له څویه، وروړ له ورروه او ښځه له خاونده جلا کوي.

حضرت طفیل فرمائي ! زما دي په الله قسم وي چي کله ما د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خلاف د قریشو دا پروپاګنډه واوریدله نو ډیر زیات ئي وویرولم او دا قصد مي وکړ چي زه به هیڅکله د محمد (صلی الله علیه وسلم) سره ملاقات ونکړم، نه به د هغه خواله ورځم او نه به ورسره خبري وکړم. یوه ورځ زه د سحر په وخت د عبادت په غرض بیت الله ته لاړم تر څو د بتانو برکات حاصل کړم ځکه مونږ به د دغو بتانو ډیر زیات احترام کولو. بیت الله ته د ننوتلو نه مخکي مي په غوږونوکي مالوچ کیښودل چي چیري د محمد(صلی الله علیه وسلم) آواز زما غوږ ته رانشي . کله چي زه مسجد الحرام ته ورداخل شوم ګورم چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په لمانځه ولاړ دي ، زه ورته لږ شان زیر شوم ، د هغه د عبادت طریقه بلکل جلا وه او زه دي نوي طریقي حیران کړم او دغي طریقي په ما دومره اثر وکړ چي زما زړه او دماغو ما ته د خوشحالۍ زیري راکولو، زه په غیر ارادي توګه د هغه څنګ ته ورنیږدي کیدم، الله تعالی ته به همدا منظوره وه چي زه دي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یو څو خوږي خبري واورم، بل خوا زما ضمیر هم ما ته دا آوازونه کول چي اي طفیله! ته یو پوه ادیب، ښه شاعر او په ښو او بدو پوه ئي نو پدي کي څه عیب دي چي ته د دي سړي(محمدصلی الله علیه وسلم) سره ونه ګوري .

حضرت طفیل(رضي الله عنه) وائي زه تر هغه په جومات کي ولاړ پاتي شوم چي حضور(صلی الله علیه وسلم) له خپل عبادت نه فارغ شو او د خپل کور په لور روان شو، زه هم ورپسي شا شا ته روان وم، تر دي چي هغه خپل کور ته تشریف یوړو، ما ورته آواز وکړو،چي اي د الله رسوله (صلی الله علیه وسلم) ستا قوم ما ته ستا په باره کي ډیري خبري کړي دي اوزه ئي ډیر زیات ویرولي یم،په ربښتیا ستا خبري په ما چیري څه اثر ونکړي،په دغه وخت کي ماخپل د غوږونو مالوچ نور هم په خپلو غوږونوکي دننه کړل، لیکن د الله تعالی رضاء به هم په همدي کي وه چي زه دي د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) خبري واورم. ما ورته عرض وکړو چي یا رسول الله! ما ستا تولي خبري واوریدي او ستا خبرو په ما ډیر ښه اثر وکړو. وروسته بیا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) زه اسلام ته دعوت کړم او د سورة «اخلاص» اوسورة «فلق» تلاوت ئي راته وکړو.

حضرت طفیل(رضي الله عنه) وائي زما دي په الله قسم وي چي ما په خپل ژوند کي لمړی ځل داسي له اثره ډک کلام واورید او زما غوږونو تردغه وخته داسي د عدل او انصاف نه ډک پیغام نه ؤ اوریدلي.

پدغه وخت کي ما بیعت ورسره وکړ او د شهادت عظیمه کلمه مي تلاوت کړه او د دي خبري ګوا هي مي ورکړه چه د الله تعالی د پاک ذات نه علاوه هیڅوک د عبادت لائق ندي، او محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله ربښتیني رسول دي او پدغه ډول زه له دغي ورځي نه د اسلام په دائره کي داخل شوم .

حضرت طفیل(رضي الله عنه) فرمائي چي وروسته زه د څه مودي لپاره په مکه کي پاتي شوم او پدغه موده کي مي د اسلام احکام او د قرآن پاک څه حصه زده کړه . کله چه مي د خپل وطن (تهامه) په لور د تلو اراده وکړه نو د رسول الله (صلی الله

عليه وسلم) حضور ته حاضر شوم او ورته مې عرض وکړ چه یا رسول الله(صلی الله علیه وسلم)! زه د یوې قبیلې مشر یم ا و زما قبیله زما هره خبره اوري او نن زه غواړم چې د اسلام د یو داعي په حیث د هغوي خوا ته ورشم نوته د الله تعالي په حضور کې زما د پاره داسې یوه دعاء وغواړه چې ماله داسې یوه نښه راکړي چې زه هغوي ته دعوت ورکړم او هغوي ئې قبول کړي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هغه په حق کې دعا وکړه چې یاالله ! ته طفیل ته یوه نښه ورکړه چې هغه د یو نیك کار اراده کړیده .

حضرت طفیل(رضي الله عنه) فرمائي چې کله زه خپل کلي ته ورنږدې شوم نو ناڅاپه زما په تندي کې یوه رڼا راښکاره شوه، ما له الله تعالي نه سوال وکړو چې یاالله! دا رڼا زما د تندي پر ځاي په یو بل ځاي راښکاره کړه ځکه زما جاهل قوم به وائي طفیل خپل دین پرېښود اوس پري عذاب نازل شو ، هغه وائي بس زما دعا وه او وروسته دغه رڼا زما دتندي پر ځاي زما په نیزه پریوته.زه چې خپل کور ته ورنیږدې شوم نو د تولو نه مخکې زه د خپل پلار سره مخامخ شوم، حضرت طفیل(رضي الله عنه) فرمائي چې ما ورته وویل اي پلاره ! ما ته رانږدې نشې ځکه زما او ستا لاري جلادي . پلار مې چې کله دا خبره واوریدله ډیر زیات خواشیني شو او ما ته ئې وویل دا ولې اي زما خوږه بچیه ؟

حضرت طفیل(رضي الله عنه) فرمائي ما ورته ځواب ورکړ چې پلاره زه مسلمان شوي یم او د محمد (صلی الله علیه وسلم) د دین پیروي مې قبوله کړي ده .پلار مې چې کله دا خبري واوریدلي نو وئي ویل ځویه ! زما هم همغه دین دي کوم چې تا قبول کړي دي . ما ورته وویل نو بیا لاړشه ښه غسل وکړه او بیا راځه چې زه درته هغه تعلیم درزده کړم کوم چې ماته حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم)راښودلي دي .

پلار مې لاړ، غسل ئې وکړ، پاکې جامې ئې په تن کړي،ما ورته کلمه بیان کړه او هغه مسلمان شو. د دې نه وروسته زما میرمن راغله ما هغې ته هم هغه خبره وکړه کومه چې مې پلار ته کړې وه . هغې راته وویل اي ګرانه! دا ولې؟ ما ورته ځواب ورکړ چې نن ما د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) دین(اسلام) قبول کړي دي. هغې هم راته وویل تا چې کوم دین قبول کړي هغه ما ته هم په سر سترګو قبول دي . ما ورته وویل نو بیا لاړه شه او د ذوالشرئ په اوبو غسل وکړه. ذوالشرئ هغه بت ؤ د کوم په خوا کې چې د اوبو یو لوي حوض ؤ او هیڅا به د دغه بت له ویري پدغه حوض کې غسل نه شو کولي، حضرت طفیل(رضي الله عنه) فرمائي چې ما ورته وویل نن دغه بت تاته هیڅ شر نشي در رسولي ځکه زمونږ عقیده صرف په هغه ذات ده کوم چې د ځمکې او آسمانونو پیدا کوونکي دي.

هغې چې کله دغه د ایماني غیرت نه ډکه خبره واوریدله نو فوراً لاړه هلته ئې غسل وکړ،صفا کالي ئې په تن کړل، ما ورته کلمه وویله هغې قبوله کړه او مسلمانه شوه .حضرت طفیل(رضي الله عنه) فرمائي د خپل کور نه وروسته ما د اسلام دعوت د «دوس» قبیلې خلکو ته وړاندې کړ. لیکن هیڅا د اسلام په قبلولو کې اخلاص ښکاره نکړو، یواځې له ابوهریره (رضي الله عنه)نه پرته چې هغه یو پاك مخلص انسان ؤ او په

ډيره مينه او اخلاص ئې د اسلام دعوت ته لبيك ووايه. حضرت طفيل (رضي الله عنه) فرمائي چي يوه ورځ زه د رسول ا لله صلى الله عليه وسلم د ملاقات لپاره مكې ته لاړم، زما سره ابوهريره (رضي الله عنه) هم ملګري ؤ.

نبي كريم (صلى الله عليه وسلم) زما نه پوښتنه وكړه. اي طفيله! څه حال دي؟ ما ورته عرض وكړ چه د «دوس» د خلكو په زړونو باندي د كفر او شرك پردي خوري دي، فسق اود الله تعا لي نافرماني پكي ډيره شوي ده. حضور صلى الله عليه وسلم چي زما دا خبره واوريدله،پاځيده اودس ئې وكړ او د لمانځه نه وروسته ئې د آسمان لور ته خپل مبارك لاسونه پورته كړل او دعا ئې كوله .

ابوهريره(رضي الله عنه) وائي چي كله ما دا حالت وليد نو ډير زيات ودار شوم چي هسي نه رسول الله(صلى الله عليه وسلم) زمونږ قوم ته ښيرا وكړي او تباه شي .له ډيره خفګانه زما له خولي نه بي اختياره يوه چيغه وختله، چي اي زما قومه تباه شوي . ليكن رسول الله(صلى الله عليه وسلم) چي څه فرمائل هغه دا ؤ. اي الله ! ته د «دوس» قبيلي ته هدايت نصيب كړي.

اي الله! ته د «دوس» قبيلي ته هدايت نصيب كړي. اي الله! ته د «دوس» قبيلي ته هدايت نصيب كړي.

وروسته ئې حضرت طفيل (رضي الله عنه) ته خپل مبارك مخ واړولو او وئې فرمائيل: اوس ته د خپل قوم خوا له ورشه او له هغوي سره د همدردي سلوك وكړه او اسلام ته ئې دعوت كړه. حضرت طفيل فرمائي وروسته ما د «دوس » قبيلي خلكو ته د اسلام دعوت شروع كړ، تر هغه چي حضور (صلى الله عليه وسلم) له مكي نه مديني ته هجرت وكړ. بيا د بدر او خندق غزوات وشول نو كله چي زه د حضور(صلى الله عليه وسلم) خوا له مديني ته ولاړم نو په هغه وخت كي زما سره (۸۰) هغه كورنۍ هم وي چي اسلام ئې قبول كړي ؤ .

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) چي مونږ وليدلو نو ډير زيات خوشحال شو او د خيبر د غنيمت په مال كي ئې زمونږ ډيره زياته حصه وكړه. حضرت طفيل(رضي الله عنه) فرمائي وروسته زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحبت كي تر هغه وخته پاتي شوم تر څو چي د الله تعالي په فضل مكه فتحه شوه.وروسته ما رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته عرض وكړ كه ستا رضا وي ما د عمرو بن صممه بت (ذوالكفين) ته واستوه تر څو دغه بت زه په خپلو لاسونو وسوزوم. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ما ته اجازت راكړو او زه د خپلو څو تنو ملګرو سره روان شوم، مونږ چه كله هلته ورسيدلو او د دغه بت د سوزولو اراده مو وكړه نو لوي او واړه پدي خاطر راجمع شول او دا انتظار ئې كولو چي دوي ګه دغه بت ته نقصان ورسولو نو له آسمانه به په دوي تندر راپريوځي او ټول به تباه شي .مونږ دغه بت د هغه د منجورانو په مخكي په مځكه راوويشته او د اور په لمبو كي مو توره ايره كړ. حضرت طفيل(رضي الله عنه) فرمائي په دغه وخت كي ما دغه اشعار هم وويل.

ترجمه: اي ذوالكفينه زه ستا د منجورانو له جملي څخه نه يم، ځكه زما پيدايښت ستا د پيدايښت نه ډير وړاندي شوي دي .نن زه تا د اور په لمبو كي سوزوم، ولي ته هيڅ د دي توان نه لري چي ځان د دغه اور نه په امان كړي.

د دغه بت له سوزېدلو وروسته ټوله قبيله د شرك له لعنت نه په امان شوه او ټول د اسلام په دين مشرف

شول ، تر هغه چي حضور(صلی الله علیه وسلم) وفات شو او ابوبکر(رضي الله عنه) د مسلمانانو د خلیفه په حیث انتخاب شو. حضرت طفیل د ابوبکر صدیق(رضي الله عنه) خدمت ته حاضر شو او ورته ئي عرض وکړ، چي اي ابوبکره! (رضي الله عنه) زه تا ته یقین درکوم چي زه، زما ځوي او زما توره به ستا په تائید او نصرت کي همیشه تیار یو. بیا چي کله د ارتداد جګړي پیل شوي او د کفر او الحاد لمبي په اوچتیدو شوي، نو حضرت طفیل(رضي الله عنه) د خپل ځوي عمرو سره د مسلیمه کذاب په خلاف د مسلمانانو په لښکر کي ګډون وکړ.

حضرت طفیل (رضي الله عنه) یمامه ته د روانیدلو نه مخکي خوب ولیدلو او خپلو ملګرو ته ئي داسي بیان کړو .

اي زما ملګرو! ما یو خوب لیدلي چي زما سر خرول شوي، زما له خولي نه یوه مرغي بهر ته راوتله او یوي ښځي ما له په خپلي غیږ کي ځای راکړو، ما دا هم ولیدل چي زما ځوي عمرو هم په ما پسي په ډیره چټکي رامندي وهي خو زما او د هغه تر منځ یو څیز حائل شو. ټولو ملګرو ورته وویل چي ډیر زیات ښه خوب دي لیدلي دي، حضرت طفیل (رضي الله عنه) ورته وویل زما دي په الله قسم وي ما د دي خوب تعبیر دا شان ویستلي دي چي د سر خرول مي د سر پریکول تعبیر کړي، زما خولي نه مرغي الوتل مي روح وتل او هغه ښځه چي ماله ئي په خپله غیږه کي ځاي راکړ هغه ځمکه ده چي زه پکي دفن شوم او زه امید لرم چي الله تعالي به ما ته د شهادت اوچته مرتبه په نصیب کړي، او زما ځوي به هم په شهادت پسي لیوني سپیلني ګرځي خو هغه ته به هله دغه مقام په نصیب شي چي کله الله تعالي له هغه څخه راضي شي.

د «یمامه» په معرکه کي دغه جلیل القدر صحابي (حضرت طفیل رضي الله عنه) د ډیرو سختو مشکلا تو سره مخامخ شو او د ډول ډول ازما- یښتونو وروسته د شهادت لوړ مقام ته ورسید او د هغه ځوي حضرت عمرو ډیر سخت ټپي شو. پدغه جګړه کي د حضرت عمروبن طفیل (رضي الله عنه) لاس هم شهید شو.

یو ځل د حضرت عمر(رضي الله عنه) د خلافت په دور کي حضرت عمروبن طفیل د امیرالمؤمنین د ملا- قات لپاره تشریف راوړو،کله چي د ډوډي خوړلو وخت شو، دسترخوان هوار شو نو حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) حاضر مجلس ته د ډوډي خوړلو دعوت ورکړو، پدغه وخت کي حضرت عمرو(رضي الله عنه) یوي خوا ته لیري کیناست، امیرالمؤمنین تري پوښتنه وکړه، اي عمرو! په څه وجه د دسترخوان نه لیري کیناستلي؟ داسي خو به نوي چي ته د خپل پري شوي لاس په وجه له مجلس نه شرمیږي؟ هغه ځواب ورکړ، اي امیرالمؤمنینه! څه چه تا وفرمایل همدغه وجه ده. امیرالمؤمنین ورته وویل! زما دي په الله قسم وي په دي قوم کي صرف تاته دا اعزاز حاصل دي چي ستا د وجود یوه حصه ستا نه وړاندي جنت ته رسیدلي ده.

حضرت عمروبن طفیل(رضي الله عنه) دشهادت د عظیمي مرتبي خوبونه له هغه وخت څخه لیدل د کوم وخت نه چي د ده لاس له ده څخه جدا شو. د «یرمك» په جګړه کي حضرت عمرو(رضي الله عنه) د دښمن سره ډیر په میړانه وجنګید او بلاخره د شهادت عظیمه مرتبه ئي نصیب او د خپل ژوند آخري آرمان ئي پوره شو. (رضي الله عنه)

طاعون (PLAGUE)

لعل محمد «افسوس»

بشریت نن وخت له داسې مهلکو او | نومونو اوریدلو یی دانسان زړه | او اید ز غوندی خطرناک نومونه هم

د حضرت عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایی چي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د طاعون په هکله پوښتنه وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: چی طاعون یو ډول عذاب دی، کله چي الله تعالی وغواړی په یو قوم یې نازل کړی، الله تعالی طاعون د مؤمنانو لپاره رحمت گنلی دی، هغه شخص چی د طاعون دوباء د لگیدو په وجه په خپل وطن کی په پاتی کیدو صبر اختیار کړی او د ثواب په نیت پاتی شی او دا یقین ولری چی دا د الله تعالی له طرفه دی، الله تعالی دغه صابر مؤمن ته د شهید د درجې ثواب ورکوی. (بخاری ج ۲ ص ۸۵۳)

په دی حدیث شریف کی رسول الله صلی الله علیه وسلم د طاعون په باره کی وضاحت فرمایلی دی چی طاعون د الله له طرفه یو نازل شوي عذاب دی، کوم قوم چي د حدود الله نه تجاوز وکړي، الله تعالی پری ډول ډول عذابونه نازلوی، ځینی عذاب دومره خطرناک وی چي ټول قوم له تباهي سره مخ کړی، د حضور صلی الله علیه وسلم د ارشاد مطابق الله تعالی طاعون دمؤمنانو لپاره د رحمت یو سبب گنلی دی یعنی که کوم مؤمن دطاعون له ناروغۍ څخه مړ شي، الله تعالی ورته ــــ

خطرناکو ناروغیو سره مخ دی چی په | لړزیږي. په دی ناروغیو کی د سرطان | شامل دی، مگر طاعون چی ډیره

قديمي او پخوانۍ ناروغي ده، په دې وروستيو وختو کې يې په هند کې يو ځل بيا ظهور وکړ چې د هند د نيمې وچې ټول هيوادونه يې په ويره او خواشينۍ کې وغورځول. د هند د نيمې وچې ټولو ممالکو خپلې سرحدي لارې د هند سره تړلې دي او د تلونکو او راتلونکو مسافرينو لپاره يې طبي

پيدا کيږي، يعنې چې کله ددوی معبودان ناراضه شي، ددوی دغيض وغضب په سبب د طاعون ناروغي خپريږي. طاعون د پخوانيو نظرياتو له مخې د «زخم يا تصادفي پيبنې» په معنې دی. د تاريخ په اوږدوکې د طاعون ناروغي دبشري نسل ډيره تباهي کړې ده، د يو مشهور روماني

ورکړې شوې ؤ. په ۱۶۱۲ ميلادي کال کې د هند په نيمه وچه کې د لومړي ځل لپاره دا ناروغي پيدا شوه. په (۹۶-۱۸۹۵) کلونو کې ددوهم ځل لپاره بيا په هند کې په وبايي شکل خپره شوه، دا هغه وخت ؤ چې د هند نيمه وچه د برطانويانو په تسلط کې وه، د برطانيي حکومت ددې

د شهيد درجه ورکوي. د رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمان دی: «الطاعون شهادة کل مسلم» يعنې له طاعون څخه مړينه شهادت دی. (بخاري ج۲ ص ۸۵۳)

په يو بل حديث شريف کې رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي: چې شهيد په پنځه ډوله وي، له دې څخه يو هغه طاعون ځپلی مسلمان دی چې د طاعون په ناروغۍ مړ وي. او هغه شخص چې ددې مهلکې وبأ په وخت کې له دې ناروغۍ څخه بچ پاتې شي، ددغه لپاره څکه رحمت ګڼل شوی چې پر الله تعالی يې ايمان مضبوطيږي، څکه چې الله تعالی ديوې مهلکې ناروغۍ څخه وژغورهٔ. همدا رنګه د يو مسلمان لپاره له دې ناروغۍ څخه د ويرې او ترس ضرورت نشته، البته احتياطي تدابير ضرور په نظر کې نيول پکار دي. دا ناروغي د مؤمنانو لپاره د رحمت او د الله تعالی له حکم څخه د باغيانو لپاره عذاب دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم مؤمنانو ته ددې خبرې توصيه کړې، چې که ستاسې په کومه سيمه کې د طاعون او يا بله وبايي ناروغي ولګيږي، دغه سيمه مه پريږدئ، يعنې بل ځای ته مه ځئ؛ او همدا رنګه د نورو سيمو مسلمانانو ته حکم دا دی چې دغه سيمه په کومه کې چې د طاعون ناروغي ــــ

معايناتي ټيمونه دخپلو سرحدي پولو په اوږدو کې توظيف کړي دي.

که تاريخ وکتل شي نو طاعون دانساني نسل يو ډير پخواني دښمن دی. رومانيانو به داسې فکر کاوه چې د طاعون ناروغي ددوی دمعبودانو د خواشينۍ او ناراضه کيدلو له امله

بادشاه «جتنين» د حکومت په دور کې دې ناروغۍ دبشري نسل ډيره تباهي کړې وه. دې ناروغۍ د څوارلسمې عيسوي پيړۍ په دوران کې په اروپا کې سرايت وکړ او اروپائيان يې تاله ترغې کړل، په دغه وخت کې د طاعون ناروغۍ ته د «تور مرګ» نوم

ناروغۍ د له منځه وړلو اوقايو کولو لپاره يو کميسيون جوړ کړ، په ۱۹۰۲ کال دغه کميسيون په کار پيل وکړ او په ۱۹۰٤ کې يې خپل هغه رپورټ چې له طاعون څخه څرنګه ژغورنه کيدی شي؛ د برطانيي حکومت ته وړاندې کړ. له دې وروسته

دطاعون څه ناڅه مخنیوی وشو مګر په ۱۹۰۶ او ۱۹۱۱ کلونو کی بیا په هند، ختیځ چین، افریقا، جنوبی او شمالی امریکا، برطانیه او داسی نورو ځایونو کی په ډیر خطرناك ډول ښکاره شو او بی شمیره انسانان یی د اجل کندی ته وغورځول. په ۱۹۶۶ کال کي بیا دا ناروغی په نیپال کی کیږی، په دی نژدی وختونو کی طاعون یو ځل بیا په هند کی په ناڅاپی ډول ولګید، ددی وباء په لګیدو سره نړیوال په ډیر تشویش کی و غورځیدل.

طاعون یوه میکروبی ناروغی ده، د طاعون عامل میکروب موږکان او انسانان په ناروغۍ اخته کوی، له د (۵۵) سانتی ګراد په تودوخې د (۵) دقیقو په موده له منځه تلای شی.

دا میکروب لومړی په موږك کی د طاعون دپیدا کولو سبب جوړیږی، کله چی موږك د ناروغۍ په وجه مړ او له منځه لاړ شی، د موږك له جسم څخه یی ورګه انسان ته نقلوی یعنی کله

خپره ده مه ورځئ! (بخاری ج۱ ص ٤٩٤)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چي د بني اسرایلو په یوه طایفه الله تعالی د طاعون عذاب نازل کړی ؤ، له دی څخه وړاندی او وروسته (الله تعالی ډیر داسی داللہ له حکم څخه باغی) قومونه په دی عذاب هلاك کړی دی. (بخاری ٤٠٤)

همدا رنګه په یو روایت کی راغلی چی دا د یو نبی (علیه السلام) بد دعایي (ښیرې) دي.

حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلی چی «طاعون مدینی منوری ته نشی داخلیدی» (بخاری ج۲ ص ۸۵۳). بي له شکه د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د با برکته ذات نتیجه ده چي د طاعون غوندی خطر ناکی ناروغی څخه د مدینی منوری اوسیدونکی محفوظ دی...

ولګیده او د هند ختیځي سیمي یی متاثره کړی.

په اوسنۍ پیړۍ کی د طاعون د ناروغۍ وبائی (EPEDEMIC) شکل تر څه حده په کنټرول کی راغلی دی چی علت یی د حفظ الصحي د اصولو مراعاتول او د طاعون ضد دواګاني دی. د نړۍ په مختلفو برخو کی دا ناروغي اوس هم کله کله ښکاره موږکانو او انسانانو څخه پرته پیشو، سپي، وزه او صحرایي سوۍ هم په طاعون اخته کولی شی. طاعون ګرام منفي (g-ve) میکروب لری، په انسانانو او حیواناتو دواړو کی ناروغی پیدا کولی شی. له (۶) څخه تر (۱۵) مایکرونو پوری طول لری، حرکت نه شی کولی، ځینی وختونه د ګرد کیپسول په شکل هم لیدل کیږی، چی ورګه انسان وچیچی انسان ته د طاعون میکروب نقل او انسان په دی ناروغۍ اخته کړي او یا دا چی په طاعون اخته موږك پیشو ښکار کړی، له موږك څخه پیشو او له پیشو څخه سپی او یا نورو حیواناتو ته نقل شی. که دغه مصاب حیوانات انسان وداړی، انسان په ناروغۍ اخته شی چی د میکروب دا ډول سرایت انسان ته

لومړی جلدی طاعون پیدا کوی. که چیری دغه په ناروغی اخته موږگ یا نور حیوانات له انسان سره په یوه خونه کی و اوسیږی، د تنفس له لیاری هم انسان پدی ناروغۍ اخته کولی ځناورو په بدن کی و اوسیږی او انساني ټولنی ته هغه وخت ور داخل شی چی کله دغه ځنګلی حیوانات دانساني ټولنی سره ورځنی ژوند اختیار کړی.

څنګه چی مخکی وویل شول د ورګو او یا نورو حیواناتو له لاری انسان ته منتقل کیږی. دطاعون د وباء انحصار او کنټرول په موږکانو او ورګو پوری تړلی دی، څومره چی موږکان او

دهند له تقسیم څخه وړاندی هم په هند کی دا مهلکه ناروغی راغلی وه او ډیر کلی یی له انسانانو څخه خالی کړی وو. اوس الله تعالی دغه عذاب په هند نازل کړیدی. د اخباری اطلاعاتو مطابق زیاتره هندوان په دغه ناروغۍ اخته دی او الله تعالی د مقبوضه کشمیر دمظلومو او بی دفاع مسلمانانو د ظلمونو انتقام او سزاء ورکوی. دطاعون په وجه دهندوانو بی شمیره مړینه که له یوی خوا دغو ظالمانو ته...

شی چی دی دول ناروغی ته نیمونیائی طاعون (Pnemonic plague) وایي. د طاعون میکروب پخپله په انسانانو کی نه پیدا کیږي، دا میکروب کولی شی چی د ځنګلی مثلاً هغه موږکان چی په ځمکه کی اوسیږی او له ځمکی څخه انسانی کورونو ته داخل شی، دغه په ناروغۍ اخته موږکان له ځانه سره میکروبونه د انسانانو کورونو ته نقل کړی او لکه ورګی زیاتی وی، هغومره ددی مهلک مرض د پیدا کیدو امکانات زیات وی.

جلدي طاعون:

کله چی موږک د طاعون په ناروغۍ اخته شوی وی، ورګه دمصاب

یوه ځانی سزاء ده نو له بلی خوا ټولی نړۍ له هند سره خپلی اړیکی قطع کړیدي چي دا دغو ظالمانو ته یوه مالی او اقتصادی سزا ده.

ویل کیږی چی په دی وروستیو وختونو کی د هند اقتصاد په ډیره پیمانه له بحران سره مخ دی.

هندی ظالمانو دمسلمانانو یو پخوانی او تاریخی جومات (بابری جومات)هم په ډیره بی رحمۍ سره شهید کړی او پر ځای یی د یو باطل معبد دجوړولو عزم وکړ. دا جومات د الله تعالی کور ؤ او هماغه الله تعالی اوس دخپلو دښمنانو دتباه کولو لپاره دغه عذاب نازل کړی دی. اوس هم وخت دی چی د هند حکومت له یو سالم عقل او هوش څخه کار واخلی او دا قضاوت وکړی چی بابری جومات بیرته تعمیر او همدارنګه دکشمیر په بی ګناه مسلمانانو د جبر او تشدد لاسونه ونیسی، ممکن د الله تعالی له دغه عذاب څخه نور بچ شي.

څرنګه چی طاعون یو الهی عذاب دی او په انسانانو حمله کوی نو ایلو پیتیک، هیموپیتك او اسلامي طب یي د تداوۍ او علاج لپاره خپل خپل تحقیقات کړی دی او په مختلفو طریقو یی تداوی کوی چی پکی دبدن، کور او چاپیریال پاکوالی ته لومړی ترجیح ورکړی شوی ده. له دغو علاجونو سره سره...

موزك له جسم څخه وينه څكي، دموزك له مړيني څخه وروسته ورګه د نوی ښکار په تلاش د انسانانو جامو او بسترو ته والوزی او ميکروب دچيچلو پذريعه د انسان بدن ته داخل کړی، دانه ډولي نښي کله غټي او کله هم وړی وی، مگر کله چی ډيری لويي شی او پړسوب وکړی چی حتی وچوی او نوو نه او زوی وکړي، دا نوونه او زوی ددی مرض د سرايت لپاره يوه ښه زياته وی، د کانګو احساس يی زيات وی، حامله ښځی حمل هم ضايع کوی، د ناروغ سترګی سري او په پوستکی يی تور داغونه پيدا کيږي، دمعدی او کولمو څخه د وينی جاری کيدل د

د يو مسلمان لپاره لازمه ده چی دغه ناروغی په روحانی او عقيدوی طريقه هم تداوی کړی.

امام ابن القيم رحمه الله وايي: «ددی ناروغی ددفع کولو لپاره تر ټولو قوی علاج د الله تعالی ذکر دی او په خضوع او عاجزی سره د الله تعالی نه دعا غوښتل دی له دی څخه پرته صدقات، خيرات او په کثرت سره د قرآن کريم تلاوت کول ډير ګټور دی، پدی عمل سره فرشتی را کوزيږی او خبيثه روحونه مغلوب او آثرات يي له منځه وړی (زاد المعاد ج ۳ ص ۷٦).

حضرت نواب صديق حسن خان هم وايی چی د طاعوت د دفعه کولو لپاره قنوت لوستل مستحب دی، ددی لپاره چی طاعون د لويو فتنو څخه يو آفت دی او د قنوت لوستل دشيطاني جنياتو د تسلط څخه د نجات او خلاصون سبب دی.

امام سيوطی هم په «ابيات التثبيت» کی وايی چی د طاعون د دفع کولو لپاره په رسول الله صلی الله وسلم په کثرت سره درود ويل يوه ښه دعا ده.

دا ميکروب دانسان د بدن غدو ته ځان ورسوی او انسان ته خاربنت پيدا کړی او د لوبيا ددانی غوندی چاپ پيدا کړی چی دا نښی اکثره دانسان د ورون په پورتنی برخه کی ښکاره کيږی، ځينی وختونه دغه دانه ډولي نښی په مری، تخرګی او يا دغوږونو شاته هم ليدل کيږی او وروسته بيا د بدن هره برخه مصابوی. د طاعون دغه ميډيا وی. بايد په پام کی ونيول شی چی دا ډول علامی له شپږو ورځو څخه وروسته په انسان کي څرګنديږی.

دطاعون ناروغ دمتوسطی درجي تبه هم لری، د ناروغ سر، ملا او دبدن نوری برخی دردمندی وی، ناروغ نا-آرامه او ځيني وختونه نيم بی هوش او د بد حواسی علامات پکی هم ليدل کيږی، ناروغ ته لوږه کمه او تنده انسان د مرګ سبب ګرځی، دمريض دوينی فشار کم او زړه يی کمزوری شی، ځينی وختونه د مريض تبه يو دم ختمه شی چی دا په اصل کې د ناروغ د مدافعت قوت ختم شوی وي او د ناروغ د بچ کيدو امکانات ډير کم وی.

نيمونيايی طاعون:

لکه چی مخکی وويل شول

دطاعون میکروبونه د وینی له لاری ټول بدن ته خپاره شی او دبدن هر غړی مصاب شي، له دی امله سږو ته هم منتقل شی چی د نیمونیایی طاعون سبب وگرځی او دا ډول طاعون ډیر خطرناك وی. دا ډول ناروغی دناروغ شخص له بلغمو، ټوخی او تنفس له امله ډیر زر نورو انسانانو ته خپریږی، په دی ډول ناروغۍ کی ناروغ شدید ټوخی چی په بلغمو کی ناروغ وینه هم ږغورزوی او تبه لری.

که چیری په ناروغ کی دغه اعراض او علایم ولیدل شی، مخکی له دی چی په تشخیصي مراحلو کی ځنډ پیښ شی، باید زر تر زره ناروغ تداوی شی. په دی ډول ناروغۍ کي ناروغ عموماً له پنځه یا شپږو ورځو وروسته له منځه ځی او که له دغي مودی ځخه بچ شی، ممکن ناروغ صحت ومومی.

د طاعون به باب ځیني احتیاطی تدابیر:

۱- که په کومه سیمه کي د موږکانو مړینه بی له کومی بلی وجی ولیدل شي، دغه موږکان د طاعون په ناروغۍ اخته دی، انسانانو ته دطاعون دسرایت لومړني علت همدغه دی. کوښښ باید وکړل شی چی په عامه توگه موږکان له منځه یوړل شی او له مړینی وروسته وسوزول شی، تر څو ټولنه له دغه ډول مهلکی ناروغۍ ځخه وژغورل شی.

۲- کله چی دطاعون وباء خپره وی، هری تبی ته باید دشك په نظر وکتل شی او د ناروغ ورگو چیچلي نبنی ولټول شی.

۳- د طاعون دتشخیص لپاره په ناروغ کی هغه علایم چی مخکي ذکر شول، محتاطانه په نظر کي ونیول شی.

٤- د طاعون د وباء په وختونو کی دغه ډول ته ورته هره ناروغی باید صحي مرکز ته د لابراتواری کتنی لپاره ولیږل شی.

٥- د جلدی طاعون د ناروغانو که مناسب علاج ونه کړی شی تقریباً له ٪۵۰-۳۰ پوری انسانان له منځه ورلای شی، مگر په نیمونیایی یا دماغی طاعون چي دماغ یی مصاب کړی وی، دبچ کیدو امکانات یی ډیر لږ وی.

٦- په دی ناروغۍ د اخته اشخاصو فضوله مواد، بلغم او لاړی باید د خاورو د تیلو په ذریعه وسوزول شي، همدا رنگه د ناروغ کټ، بستره، جامی او هغه سامانونه چی ناروغ ته استعمال شوی وی، که د سولو قابل وی، وسوزول شی او که نه نو له خاورو لاندی ښخ کړل شي.

۷- روغ او ناروغ دواړه بایدد ځمکی له ویده کیدو ځخه ډډه وکړی.

۸- په کورونو کی د مژو او ورگو ضد کیمیاوی دواگانی وشیندل شی او دکورونو او چاپیریال پاکوالی ته خاصه توجه وشی.

۹- ددی ناروغۍ دمخنیوی لپاره واکسین هم شته، لازمه ده چي روغ اشخاص واکسین شی، تر څو ددی مهلکي ناروغۍ مخنیوی وکړل شی.

له (Tetracyclin) واکسینو پرته او (Streptomycin) یو ځای په تداوی کی ډیر گټور دی، سلفامیډونه (Salphameds) او(Chloromycin) هم فایده مند دی.

دنبوي ملغلرو اميل

په تيريسى

د صحبت دعا:

له ښځې سره د ويده کيدو په وخت کي دا دعا ولولئ:

(بسم الله اللهم جنبنا الشيطن و جنب الشيطن ما رزقتنا) مشکوة باب الدعوات في الأوقات.

ترجمه: د الله په نوم! اي الله! مونږ له شيطان نه لري وساتي او شيطان لري وساتي له هغه شي نه چي تا ما ته راکړي دي.

بازار ته د داخليدو دعا:

له حضرت عمر (رضي الله عنه) نه روايت دي چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمائي:

کله چي بازار ته داخليږي دا دعا ولولي: «لا اله الا الله وحده لاشريك له له الملك وله الحمد يحيي ويميت و هو حي لا يموت بيده الخير و هو علي كل شيءٌ قدير». (مشکوة-باب الدعوات في الاوقات دوهم فصل)

ترجمه: له الله تعالي نه پرته بل څوك د عبادت وړ ندي هغه يو دي هيڅ شريك او ساري نلري پاچاهي د هغه ده، ټول تعريفونه هغه لره دي، ژوند او مرگ د هغه پلاس کي دي او هغه د تل لپاره ژوندي دي. خير د هغه پلاس کي دي او هغه په هر شي باندي قادردي.

د دغي دعا په لوستلو سره الله پاك لوستونکي ته لس لکه نيکۍ ورکوي او لس لکه گناوي ئي ورمعاف کوي او لس لکه درجي ورکوي او په جنت کي د هغه لپاره کور جوړوي.

د مريضۍ او مريض د پوښتني کولو په وخت کي دعا گاني:

له حضرت عايشي (رضي الله عنها) نه روايت دي کله چي به په مونږ کي کوم يو مريض شو نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) به خپل ښي لاس په هغه باندي راښکود او دا دعا به ئي لوستله.

«اذهب البأس رب الناس واشف أنت الشافي لاشفاء الا شفاؤك شفاء لا يغادر شقما» (مشکوة باب عيادة المريض لومړي فصل)

ترجمه: اي د خلقت او شفاء ورکوونکي ربه! شفاء ورکړي، ته شفاء ورکوونکي ئې، نشته شفاء مگر ته داسي شفاء ورکړي چي يو هم مريض پاتي نه شي

له حضرت ابن عباس(رضي الله عنهم) نه روايت دي، کله به چي رسول الله صلى الله عليه وسلم کوم مريض ته ورغي نو هغه ته به ئي داسي تسلي ورکوله! «لا بأس طهور انشاء الله» (مشکوة باب عيادة المريض لومړي فصل)

ترجمه: هيڅ پروا نشته که الله کول د

دغه مرض په واسطه به الله پاك تا له گناهونو څخه پاك کړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو صحابي ته داسي وفرمايل: چي د مريض د درد په ځاي لاس کيږدئ او دري ځلي بسم الله ووائي، بيا اووه واري دغه دعا ولولي الله پاك به مريض ښه کړي: «أعوذ بعزة الله و قدرته من شر ما اجدو احاذر»

ترجمه: زه د الله په غلبې او قدرت پناه غواړم له هر هغه تکليف نه چي ماته رارسيږي او له هغه نه ځان ساتل غواړم.

د غاښ او غوږ د درد په وخت کي دعا:

د غاښ او غوږ له درد نه دبچ کيدلو لپاره دی دا دعا ووائی:

«الحمدلله رب العلمين على كل حال ما كان». باب العيادة المريض لومړی فصل.

ټول تعريفونه الله لره دي په هر حالت کي چي څنگه وي.

د دي دعا په لوستلو سره د غاښ او غوږ د درد نه شفآء حاصليږي.

د زنکدن په وخت کي دعا:

له حضرت ابو سعيد او حضرت ابو هريره(رضي الله عنهم) روايت دي چی رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي مسلمان ته د زنکدن په وخت کي دا دعاء ولولئ: «لااله الا الله» مشکوة باب ما يقال عند من حضرت الموت لومړی فصل.

ترجمه: د الله تعالى نه پرته بل څوك د عبادت وړ نه دي.

د جنازي دعاگاني:

له حضرت عوف بن مالك نه روايت دي چي رسول الله(صلى الله عليه وسلم)يوه جنازه وکړه ما له هغه نه دغه دعاء واوريدله او دا خواهش مې وکړ چي کاشکي دا زما جنازه واي!

«اللهم اغفرله وارحمه و عافه واعف عنه واكرمه نزله و وسع مدخله واغسله بالماء وَالثلج والبرد و نقه من الخطايا كمانقيت الثوب الابيض من الدنس و ابدله دارا خيرا من داره و اهلا خيرا من اهله و زوجا خيرا من زوجه و ادخله الجنة و اعذه من عذاب القبر و من عذاب النار» (عون المعبود كتاب الجنايز)

ترجمه: اي الله! دا مړي وبخښي او رحم ورباندي وکړي، آرام ورکړي او وئي بخښي او ښه ميلمستيا ورکړي، قبر ئي پراخ کړي، په اوبو' برف' باندي ئي ووينځي او پاك ئي کړي له گناهونو څخه، داسي ئي پاك کړي لکه سپين کالي چي په صابن ووينځل شي. کوروړته ورکړي'د دنيا له کور نه ښه ښځه او اولاد له مخکي اولاد او ښځي نه ښه ورته ورکړي.جنت ورته ورکړي او د دوزخ او قبر له عذاب نه ئي وساتي.

بله دعا: له حضرت ابو هريره(رضي الله عنه) څخه روايت دي چي کله به رسول الله (صلى الله عليه وسلم) جنازه کوله نو دا دعا به ئي لوستله:

اللهم اغفر لحينا و ميتنا و شاهدنا و غائبنا و صغيرنا و كبيرنا و ذكرنا و انثانا اللهم من احييته منا فاحيه على الإسلام و من توفيته منا فتوفه على الايمان. اللهم لاتحرمنا اجره ولاتفتنا بعده.(مشكوة باب المشي بالجنازة والصلاة عليها فصل دوم)

ترجمه: يا الله! زمونږ مړي، ژوندي، حاضر، غائب، واړه، لوي، ښځي او نارينه وبخښي.

يا الله! چاته چي ته ژوند ورکړي موږ هم ژوندي کړي په اسلام باندي، او په موږ کي چي څوك مړ کړي نو له ايمان سره ئي مړ کړي.يا الله! موږ له فتني وساتي او له دي اجر څخه مو بي برخي مه کړي.

د سبحان الله ويلو فضيلت:

له حضرت ابو هريره(رضي الله عنه) څخه روايت دي چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي : دوه کلمي داسي دي چي په ويلو کي ډيري اساني او د نيکيو وزن ئي خورا درونددي او دغه کلمي الله تعالي ته ډيري گراني (خوښي) دي.

«سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم»

ترجمه:الله پاك دي د خپل حمد سره - الله پاك دي او د عظمت خاوند دي.

(متفق عليه ترغيب ص ١٨٤)

د لاحول ويلو فضيلت:

له حضرت ابو موسي (رضي الله عنه) څخه روايت دي چي نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) ما ته وفرمايل: ته لاحول و لاقوة الابالله وايه ، ځکه داجنت له خزانو څخه يوه خزانه ده.(متفقٌ عليه)

په يو بل روايت کي راغلي ځوك چي « لاحول ولا قوة الابالله» وائي د(٩٩) امراضو نه په امان وي، چي له ټولو نه کوچني مرض ئي ذهني پريشاني او بي ځايه فکرونه او سوچونه دي. (نسائي-ترغيب ص١٨٨)

له موذي ځناورو او حشراتو نه د حفاظت نسخه:

له حضرت ابوهريره(رضي الله عنه) څخه روايت دي چي يو سړي د حضور صلى الله عليه وسلم څنگ ته راغي او ورته ئي وويل! بيگا شپه زه لړم وچيچلم، حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل که چيري تا دماښام نه وروسته دا دعا لوستلي وائي . «اعوذبكلمات الله التامات من شرماخلق » نو تاته به هيڅ کوم موذي څيز ضرر نه وائي دررسولي .

د فالج له مرض نه د شفاء او حفاظت دعا:

له حضرت ابان بن عثمان (رضي الله عنه) څخه روايت دي چي ما ته حضرت عثمان بن عفان (رضي الله عنه) وويل چي ماته رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل : ځوك چي سهار او ماښام «بسم الله الذي لايضر مع اسمه شيٌ في الارض ولافي السمآء و هو السمع العليم» دري ځله ووائي نو هغه ته به هيڅ تکليف پيښ نه شي .

په حضرت ابان د فالج حمله وشوه ، خلکو ورته‌وويل ا تا خو به هميشه دا دعا لوستله بيا درته څرنگه فالج پيښ شو هغه ورته ځواب ورکړ ا په دغو ورځو کي ما دغه دعا پريښي وه (رواه الاربعة -ترغيب ص.١٩٠)

د پريشاني په وخت کي دعا:

له حضرت ابو دردا (رضي الله عنه) نه روايت دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ځوك چي د پريشاني او معصيبت په وخت کي سهار او ماښام اوه ځل دا دعاووائي نو الله تعالي به د هغه پريشاني لري کړي.

«حسبي الله لااله الاهو عليه توكلت وهو رب العرش العظيم».

(ابوداوٗد-ترغيب١٩١)

د جنت د حصول وظيفه:

حضرت منذر(رضي الله عنه) فرمائي: چي ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل چي فرمايل ئي: ځوك چي سهار اوماښام دغه کلمات ووائي نو زه د هغه ضامن يم، هغه به د لاس نه ونيسم او له ځان سره به ئي جنت ته داخل کړم.

«رضيت بالله رباً و بالاسلام ديناً و بحمد نبياً».

(طرابي ترغيب ص ١٩١)

ادامه لري

پرسشهاي شما در پرتو

قرآن و سنت

برادر عزيز و گرامي آقاي معلم محمد هارون از ولايت لغمان توسط نامه ارسالي شان ضمن سلام و احوال پرسي مسنونه پرسيده اند:

بعد از سلام مسنونه به شما كاركنان مجله دعوت عرض مي شود كه بعد از پيروزي انقلاب اسلامي افغانستان و تاراج نمودن ميوه آن از سوي مزدوران كفر جهاني چه در صفوف مجاهدين و چه در خارج از صفوف مجاهدين اين شما هستيد كه در راه احياي فرهنگ اصيل اسلامي سعي ميورزيد، بناءً از شما پرسشي دارم كه در روشني قرآن و حديث تشريح و توضيح فرمائيد، اجرش نزد رب العالمين خواهد بود:

مسئله صلاتين يعني اداء نمودن دو وقت نماز در يك وقت از چه قرار است؟ تنها در مراسم حج بين صفا و مروي جواز دارد و يا اين كه در ديگر زمان و مكان هم جواز دارد؟

برادر محترم معلم صاحب محمد هارون!

سلام هاي گرم و صميمانهٔ شما را وعليكم السلام ورحمة-الله و بركاته گفته به جواب پرسش شما ميپردازيم (بعون الله) برادرم! مسئلهء صلاتين از جمله مسائلي است كه در باره آن آحاديث فراوان از طريق راويان معتبر وثقه در كتب معتبر آحاديث و صحاح سته نقل شده واز طرف ائمه حديث بر آنها شروح نگاشته شده است.از جمله : عن ابن عباس(رضي الله عنهما) قال كان رسول الله (صلى الله عليه وسلم)يجمع بين صلاة الظهر والعصر، اذا كان علي ظهر سيرو يجمع بين المغرب و العشاء » (رواه البخاري -ج- ١ص ١٤٩

وفي المشكوة ج ١ص ١١٨)

ترجمه: از عبدالله ابن عباس (رضي الله عنه) روايت شده كه: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نماز ظهر و عصر را يكجا اداء مي نمودند، وقتيكه در سفر بودند و نماز هاي مغرب و عشاء را يكجا اداء مي نمودند .

همچنان: «وعن معاذ بن جبل(رضي الله عنه) قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم في غزوة تبوك اذا زاغت الشمس قبل ان يرتحل جمع بين الظهر و العصر و ان ارتحل قبل ان يزيغ الشمس اخرالظهر حتي ينزل المغرب و في المغرب مثل ذلك اذا غابت الشمس قبل ان يرتحل جمع بين المغرب والعشاء و ان ارتحل قبل أن تغيب الشمس اخر المغرب حتى ينزل العشاء ثم يجمع بينهما» (رواه ابوداؤد -ج١-ص١٧، والترمذي-ص٧٢- وفي المشكاة ج١-ص١١٨-و رواه ايضاً احمد-و النسائي و الدارقطني والبيهقي)

ترجمه:معاذ بن جبل (رضي الله عنه) ميگويد: كه رسول الله (صلى الله عليه وسلم) در غزوه تبوك وقتيكه آفتاب مي گشت يعني ظهر مي شد نمازهاي ظهر و عصر را يكجا اداء مينمودند و اگر بعد از وقت ظهر حركت ميكرد، نماز ظهر را تاخير تا اينكه براي نمازعصر در جائي فرود مي آمد و هر دو نماز يعني ظهر و عصر را يكجا در وقت عصر اداء مينمودند، همچنان نمازهاي مغرب و عشاء را به همين منوال يكجا اداء مينمودند(يعني) اگر افتاب قبل از حركت آنها غروب مينمود، ايشان نمازهاي مغرب و عشاء را يكجا

در وقت مغرب اداء مي نمودند و اگر قبل از غروب حرکت میکردند، نماز غروب را تأخیر نموده تا در وقت عشاء نمازهاي مغرب وعشاء را یکجا اداء مینمودند.

روایات فوق در ایام سفر از آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) منقول است، ولي در حضر نیز منقول است که آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) در حضر نیز نمازهاي ظهر با عصر و نمازهاي مغرب را با عشاء یکجا اداء نموده است مثلاً:

«عن ابن عباس(رضي الله عنهما) قال صلّ رسول الله صلی الله علیه وسلم: الظهر والعصر جمیعاً بالمدینة في غیر خوف ولا سفر قال ابو الزبیر فسألت سعیدا لم فعل ذلك فقال سالت ابن عباس کما سالتني فقال اراد ان لایحرج واحداً من امته» (رواه مسلم-ج-۱ص۲٤٦ والترمذي و ابو داؤد وابن خزیمه والطحاوي والبیهقي)

ترجمه: عبدالله ابن عباس (رضي الله عنهما) میگوید که رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نمازهاي ظهر و عصر را در مدینه بدون بیم و سفر یکجا اداء نمودند ، «ابوزبیر» (که راوي حدیث است) مي گوید که من از سعید پرسیدم که چرا اینطور کردند؟ فومود که من از ابن عباس پرسیدم او فومود که براي رفع حرج امت خود(صلی الله علیه و آله وسلم).

وهمچنان: «وعنه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الظهرو العصر جمیعاً والمغرب والعشاء جمیعاً في غیر خوف والسفر» (رواه مسلم-ج۱-ص۲٤٦)

ترجمه: وهمین عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما میفرماید که ما نمازهاي ظهرو عصر را یکجا در یکوقت و نمازهاي مغرب و عشاء را یکجا در یکوقت بدون خوف و خطر و سفر به امامت رسول الله صلی الله علیه وسلم اداء نمودیم.

برادرمحترم! از روایات فوق معلوم میگردد که رسول الله صلی الله علیه وسلم هم در سفر و هم در حضر صلاتین یعني دو وقت نماز را در یك وقت اداء نموده است، براي اینکه بر سر امتش اداء عبادت باري گران و طاقت فرسا نه شود و امتش که ضعیفترین امتهاست از اثر سختي ها و تکالیف منکر و یا غافل نه شود، زیرا اداء کردن عبادت و بجا آوردن آوامر الهي که باعث خوشنودي پروردگار عالمیان میگردد، اسباب موفقیت دنیا و آخرت خود انسان را نیز مهیاء میسازد.

بر ماست که تمام معاملات و عبادات و همه شئون زندگي خود را به طرفي انجام دهیم که رسول بر حق الهي(صلی الله علیه وسلم) به ما تعلیم داده است.

به نظر ما مسئله صلاتین به همین منوال است که اگر براي مسلمان تکلیف نه بود و هر نماز را در وقت و زمان خود اداء نموده میتوانست افضل است و اگر شخص نماز گذارتکلیف داشت، حذر موجود بود، در اینصورت جایز است که نمازهاي ظهر وعصر را یکجا و نمازهاي مغرب و عشاء را یکجا اداء نمایند و در غیر اینصورت که بعضي ها نماز عصر و مغرب را یکجا میگذارند و یا دیگر اوقات را یکجا اداء مینمایند جایز نیست.(والله اعلم بالصواب).

★ ۲-د دیر ضلعي د بلامبټ څخه زمونږ گران ورور غلام رحیم «نصرتیار»

د خپل ښکلي لیك په ترڅ کی تر مسنون سلام نه وروسته پوښتنه کړي چي: «ځیني مصنفین په خپلو تصنیفاتو کي د موضوع په متعلق د حدیثو یوه ټکره رانقل کوي، دي ته د علم په اصطلاح کي څه وائي؟ آیا دا کار جایز دي او که نه ؟ په دي هکله د علماؤ رأیه څه ده؟

مونږ په دي هکله له محترم مولوي صاحب ذبیح الله څخه استفتاء وکړه، هغه داسي و ویل: کوم مصنفین علماء چي په خپلو تصنیفاتو کی د موضوع په متعلق د حدیثو یوه ټکره رانقل کوي، دي عمل ته تخریج او کتابونو ته ئي مستخرجات وائي او دا عمل ډیري فایدي لري چي یوه ئي دا ده چي یو حدیث په مختلفو کتابونو کي په اسانۍ سره موندل کیږي او دا عمل د جمهورو علماؤ په نزد جایز دي چي پدي عمل باندي له څلورم هجري قرن نه تر نن پوري شروع شوي او مشهورو او معتبرو علماؤ د حدیثو استخراج کړي لکه: ابن عساکر، ابن حجر ، الهیشمي ، ابو جعفر الطحاوي، السیوطي، ابن کثیر، الالباني، عبدالغني المقدسي، ابن حبان،الحاکم وغیره او په دي د امة علماؤ هیڅ اختلاف ندي کړي ځکه چي پدي عمل سره د نبوي سنتو خدمت کیږي او پدي کي ډیر کتابونه لیکل شوي چي یو له هغو نه «المعجم المفهرس لالفاظ الحدیث» دي.

(اداره)

ستاسو لیک او رسید

دعوت مجله- پوست بکس نمبر٦١٤ جي پي او پشاور پاکستان

نجیب الله حقیار د باجوړ ایجنسۍ د کرهالي له کیمپ څخه :

محترم د دعوت او جهاد د مجلې مدیر صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ډېر زیات خوشحاله شوم چې زه یو ځل بیا د دعوت مجلې د(٣٥) ګڼې د مطالعې سره مخ یم، تقریباً درې میاشتې کېږي چې د دعوت د مجلې له مطالعې څخه محروم ؤم. زه د افغانستان ټولو جهادي مشرانو ته یوپیغام لرم، هیله ده چې د دعوت مجله به ئې په نشریاتي څپو کې دغو مشرانو ته ورسوي.

د افغانستان جهادي مشران دې خپل ټول قوتونه د یوسوچه اسلامي حکومت د قیام لپاره په کار واچوي لکه څرنګه چې شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د کونړ په ولایت کې د اسلامي امارت د اداري لاندې محمدي شریعت نافذ کړی ؤ، هغه هم د ډېرو داخلي مخالفتونو سره مخ شو مګر په ډېر کم وخت کې ئې د مخالفینو اختلافات د قرآن او سنت په رڼا کې حل وفصل کړل.

«ومن الله التوفیق»

xxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxx

عبدالعزیز سلفي له کویتي څخه:

د دعوت مجلې مدیر او نورو همکارانو ته دي زما سلامونه ورسیږي!

ډیر خوشحاله یم چې ستاسي دعوت الی الله ورځ په ورځ د ترقۍ په لور ګامونه اخلي ، الله تعالي دي نور هم په دي لاره کي کامیابي درنصیب کړي.

د دعوت مجلې یوه ګڼه مي ولوسته، ډیره مي خوښه شوه او هغه ځکه چې ډیر ښه دیني او معلوماتي مضامین لري. پدي هکله تاسوته عرض لرم چې ماته به د دعوت مجلې د رالیږلو سلسله جاري وساتئ.

الله تعالي دي د آخرت د ورځې کامیابي هم در په برخه کړي.

xxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxx

د الجامعه الثانویه باجوړ څخه شفیع الله خاکي او مجاهدالله رشید:

د دعوت مجلې مقام ته د زړه له کومي سلامونه وړاندي کوو!

الله تعالي مود توحید او سنت او د سلفو صالحینو د عقیدي په خپرولو کي بریالي لره!

محترمو! د دعوت مجله همیشه لولوچې ډیر په زړه پوري او جامع مطالب لري. تاسي لکه څرنګه چې د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)اقوال نشروئ، د دي سره سره که د شهید احسان الهي ظهیر اقوالو ته هم ځاي ورکړئ ښه به وي.

والســــلام

xxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxx

له بټ خیلي ملاکنډ ایجنسۍ څخه ایس- ناصر زیدي:

دي وروړ خپل لیك په اردو ژبه کي لیکلي دي د دعوت مجلې د مدیر په نوم اداب او تسلیمات وړاندي کوي، له خپلي لنډي پیژندني وروسته لیکي چې زه د ۱۹۹۱ کال راپدیخوا د پاکستان په ځینو مجلو کي لیکني کوم او ماپخپل کور کي یو وړوکي غوندي کتابتون جوړ کړي دي چې هره میاشت د پاکستان د ځینو ادارو لخوا په کي د مختلفو کتابونو او جرایدو اضافه کیږي او زما د مطالعاتي میز ښکلا ئي زیاته کړي ده. څه وخت وړاندي ماد خپل کلي د یو جومات په الماري کي دعوت مجله په نظر راغله ، ما دا مجله مطالعه کړه او د دي لیك په دراستولو مجبور شوم، هیله ده

چي د نورو کتابونو او جرایدو په څير به د دعوت د مجلي په راليږلو زما د مطالعاتي ميز ښکلا زياته کړئ، زه به مو ډير ممنون او مشکوريم.

الله مو مل شه!

د دعوت مجلي ډيرو ګرانو او قدرمنو لوستونکو!

سلامونو ته مو وعليکم السلام وايو! ستاسو د نيکو هيلو او احساساتو بي شميره مننه!

نجيب الله «حقيار» ورور ليکلي چي دري مياشتي کيږي چي د دعوت مجلي له لوستلو څخه محروم وم. په ځواب کي ئي وايو چي وروره! څه سبب ؤ؟ مجله په لاس نه وه درغلي که څنګه ؟په هر صورت ستاسو پيغام مو د خپل نشراتي چينل له لاري نشر کړ،امید دي چي د عقل او هوش خاوندان تري د عبرت لمن ډکه کړي.

عبدالعزيز سلفي ورور د مجلي د مضامينو ستاينه کړي. وروره د دي مجلي ترقي ستاسي په جايز تنقيد او نيکو وړانديزونو کي نغښتي ده، که تاسي مونږ ته نيکي مشوري راکړئ او زمونږ نيمګړتياوي په ګوته کړئ، زړ ده چي دعوت مجله به نوره هم د ترقۍ او خدمت په لورتيزه شي.

شفيع الله خاکي او مجاهد الله رشيد ورونو ! تاسو د شهيد علامه احسان الهي ظهير د اقوالو په هکله ليکلي دي، ورونو! مونږ د شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) يو څه اندازه خطبات او اقوال لروځکه ئي نشروؤ مګر د شهيد ظهير کوم خطبات او اقوال نه لرو چي نشر ته ئي وسپارو. هيله ده چي معذرت مو ومنئ.

ايس –ناصر زيدي وروره ! الله تعالي دي ستاسي د دي نيك قدم د اوچتولو نور هم توفيق درکړي، پاتي شوه د مجلي د راستولو خبره نو وروره مونږ څو واري مخکي هم خپل دا معذرت نشر کړ ي چي زمونږ وسايل ډير محدود شوي دي . مونږ تاسو او نورو ټولو ملګرو ته وايو چي ورونو يا پخپله او يا د نورو دوستانو له لاري د دعوت مجلي له اداري سره رابطه قايمه کړئ، تر څو غوښتني مو پوره شي او زمونږ مجبوريتونه درك کړئ.

«په درنښت»

(اداره)

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحيم

«ماحق الزوجة أحدنا عليه؟ حقهن أن تطعمها إذا طعمت و تكسوها إذا اكتسيت و لا تضرب الوجه و لاتقبر و تهبر إلا في البيت»

ترجمه: حكيم بن معاوية رضي الله عنه وائي: رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې پوښتنه وکړه: چه په خاوند باندي دميرمن څو حقونه وی؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ددغو حقوق دا چه ډوډی ورته ورکړی کله چه د ډوډی ضرورت وی او جامي به ورته ورکوی کله چه د جامو ضرورت وی او پر مخ ئی مه وهيء اوپه ناوړه الفاظو ئی مه سپکوئ او له ځانه ئی مه جدا کوئ مگر په کور کي.

د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له ویناو څخه

* جماعة الدعوة ټولوتنظیمونو ته چې د مسلمانانو د شقاق او نفاق سبب ګرځېدلي دي په اوچت آواز غږ کوي چې د اسلام واحد صف ته راشي او جدا جدا ډلي مه جوړیږي.

* هغه ملتونه او قومونه چې ځانونه مسلمانان ګڼي، د دوي عزت او نصرت الله تعالي په جهاد کي مقدر کړي دي، که دوي جهاد پریښود نو همدغه لاره ئي د ذلت او وروسته والي عمل ګڼل کیږي.

* هغه خلک چې هغه د اسلامي نظرئي او عقیدي څخه بر خورداره نه وي، هغه دا حق نه لري چې هغه دي د مسلمانانو د کور مالک جوړشي او د مسلمانانو په سر حکومت وکړي.

* مجاهدینو د الله تعالي په حکم خپله توره د الحاد په مقابل کي پورته کړي او په دي اسلامي هیواد کي له اسلامي نظام څخه پرته بل نظام حاکمول نه غواړي.

* په هر هغه هیواد کي چې مختلط او مشترک پارلمان او د مختلفو نظریو خلک وجود ولري په هغه هیواد کي هیڅکله هم اسلامي نظام نشي راتلاي.

* زما پیغام د افغانستان ټولو مجاهدینو ته دا دي چې دوي خپل مقدس جهاد ته ادامه ورکړي او د منافقینو او یا نورو کمونستانو په دوکو او فریبونو و نه غولیږي او د جهاد په لیکو د بطلان او تنسیخ کرښه رانه کاږي.

* زه ټولو مجاهدینو ورونو ته دا خبره کول غواړم چې کوشش وکړي چې د افغانستان په داخل کي ځان پخپله په خپل اقتصاد متکي کړي، تر څو د اسلام دښمنه قوتونو په اقتصادي فشارونو مجبور نه شي او خپل اصلي هدف له لاسه ورنه کړي.

(له کیست نه اخیستل شوي مطلب)